# دعوت

**ملي، خپلواکه خپرونه**

ISBN 978-82-691395-2-5


**ملي سندره**

 څو چې دا مځکه آسمان وي
څو چې دا جهان ودان وي
څو چې ژوند په دې جهان وي
څو چې پاتې يو افغان وي
تل به دا افغانستان وي
تل دې وي افغان ملت
تل دې وي جمهوريت
تل دې وي ملي وحدت


د خپل رب د لارې په لوري په حکمت او غوره نصـیحت سره بلنه (دعوت) ورکړه او له خلکو سره په داسې ډول مباحثه وکړه چې ډيره غوره وي. ( سوره النحل ، 125 ايت )

موسس او مسئول چلوونکی:



**محمد طارق بزګر**



د تأسيس نيټه :1367ل،(۱۹۸۸م)



Dawat Media Center,
V/M. Tariq Bazger
Vold gt. 37A, 2000
Lillestrom, Norway
Tel. +47- 63844384
Mobile. +47-90856195
dawatmedia@gmail.com
www.dawatmedia24.com



Vol. 243 March & April. 2022

پرله پسې ګڼه ۲۴۳


## داکتر عثمان تره کی د دعوت سره په مرکه کې:

## اړينه ده چې طالب د قدرت د انحصار ليونتوب پريږدي او په حکومت کې تکنوکراتانو او متخصصينو ته ځاي ورکړي

۳-۹ مخونه

## نوی واکمن او د هېواد روان حالت

د تېر کال د اګست له پنځلسمې نيټې د نظام سقوط او د طالبانو د راتګ او واکمن کېدو وروسته ورځ تر بلې د عامو افغانانو د ژوندانه کړاوونه او د بې وزلي کچه مخ په زياتيدو دي. سره له دې چې د پخوا په پرتله امنيت شته؛ خو سکون نشته. نوي چارواکي په خپل مسئوليت د نه پوهېدو او نه منلو په ناروغي اخته دي. د نويو واکمنو ځواب د ولس د هرې غوښتنې په وړاندې دا وي چې امنيت مو راوستی دی نور څه مه غواړئ، ورځ تر بلې نوی واکمن حکومت د ترکستان په لاره روان وي او داسې څه يې په کړنو کې نه ليدل کيږي، چې ولس ته په سبا او راتلونکي د باور احساس ورکړي. د طالبانو نوې واکمنه ډله خپله ټوله انرژي په هغه څه مصرفوي، چې نه ورته اړتيا شته او نه يې افغان ولس او وطن ته کوم خير رسيږي. ټول حکومت يې د وطن ښځينه قشر سره په دښمنۍ، د عام ولس په سپکاوي، د ږيرو او لنګوټې په درلودلو، د هېواد د روڼ اندو او پوه قشر په توهين، د ملي ارزښتونو په له منځه وړلو او سپکولو کې نغښتي دي. ولس ډوډۍ غواړي او دوی د ملي بيرغ په ټيټولو او ورک کولو بوخت دي . ولس کار غواړي او دوی د مسئوليت څخه د تېښتې په پار ولس ته وايي بغارې ووهئ، چې نسونه مو الله (ج) ماړه کړي .وروستۍ پريکړه او د ولس سره د پرله پسې وعدو وروسته د نجونو د ښوونځيو تړل وو، چې په دې کار يې ولس يو ځل بيا له ځان بېزاره، او خپله کړې وعده يې ماته کړه، نړيوال او د نړۍ مسلمانان يې حيران او ځان پورې وخندول. او په دې کار يې يو ځل بيا وښوده، چې دوی (طالبان) د علم او د هېواد د پرمختګ دښمنان دي. مخکې له دې چې اوبه له ورخه تيرې شي طالب مشران دې په خپلو ګريوانونو کې سر ټيټ کړي وګوري، د تعليم او پوهې پر وړاندې دې خنډ او ځنډ نه رامنځته کوي. د افغانستان راتلونکی د نوي نسل تعليم پورې تړلې ده. تعليم د ټولو حق او زمينه برابرول ورته د سرکار مسئوليت دی.

### په دې ګڼه کې:


- داکتر عثمان تره کی د دعوت سره په مرکه کې ۳ – ۸ مخونه
-دين، شريعت او حکومت ۸-۹ مخونه
-ټولنيزې شبکې محتويات څنګه اداره کوي ۱۱ – ۱۳ مخونه
-از تاسيس اولين پوهنتون دنيا توسط يک زن مسلمان در قرن ۹ م
- د نړۍ لومړنۍ تعليمي موسسه
- د تکفير او هجرت اسلامی ګوند مشر
-د تکفير او ويښتيا تر منځ شعوري واټن - ۱۷ مخ
-په اوکراين کې د هژمونيستي موخو او خپلواکۍ جګړه (۱۸-۱۹ ) مخونه
-جاپاني ليکوال موراکامي ۲۰-۲۲ مخونه
- د پښتو او شغناني ژبو د غړونو پرتله
-د وريښمو کاروان
-که دا نښې مو لرلې نو ځيرک او..
-ذهني ستړيا څنګه له منځه يوسو
-چگونه از عقايد احمقانه بپرهيزيم؟
-د افغانستان اسلامي امارت مشرانو ته ليک


### د وريښمو کاروان


د دې ګڼې ادبي څېرې:
- محمد صفدر خواريکښ (مرکه)
- د دې ګڼې ښځينه شاعره اوړۍ امانزی


### In English Issue:


-In Afghanistan, People selling babies, young girls to survive (Pages 1 -3)
-Outrage as Taliban reverse decision to allow girls attend secondary school (Page. 4)
-US steals billions in Afghan bank founds (Pages. 5-6)
-Why should Afghanistan implement the trade facilitation agreement (TFA) (Pages. 7-8)
-Religious scholars in Paktika province urges Taliban to reopen girl's schools (page. 8)
-Afghanistan: Latest survey (pages. 9-10)
-Amnesty International expresses concern over Afghan refugees torture in Iran (page. 11)
-Russia rejects US 'genocide' claim as Ukraine warns of 'endless bloodbath' (Pages. 12-13)



د دعوت رسنيز مرکز له خوا چاپ شوي کتابونه
د همدې ګڼې د پښتو برخې په وروستي مخ کې


**مخ پر وړاندې د خپلواک، سرلوړي، غښتلي، آباد او يو موټي افغانستان په لور**

# دعوت رسنیز مرکز د افغان ولس غږ

قدرمنو لوستونکو !

د دعوت رسنیز مرکز وياړي چې د خپلو بېلابېلو رسنيزو فعاليتونو د لیارې د هیواد په دې ټاکونکو او حساسو شيبو کې په ملي افغاني روحيه تر خپله وسه هڅه کوي چې خپلو خلکو ته د خدمت مصدر وګرځي.

د دعوت ملي خپرونه د خاورې تماميت، ملي ګټو او د ملي يووالي د دفاع او ساتنې په مبارزه کې د افغاني پوهانو، عالمانو، ليکوالانو، او روڼفکرانو د پاره د قلمي جهاد پرانيستلی سنګر، هڅه کوي د دعوت درنو لوستونکو ته د هيواد او ولس کورني او بهرني دښمنان وروپېژني او تر ممکن حده د دوی خاينانه دسيسې او توطيې شنډې او خنثی کړي.

په هیواد کې د سولې، ولسواکۍ، ټولنيز عدالت، وګړيزو حقونو، د مطبوعاتو خپلواکي، د قلم او بيان د ازادي، او ټول افغان ولس ته د ژوندانه د لومړنيو بنسټيزو اسانتياو د برابرولو، او په لنډه که وواېو د دموکراتيکو لارو، نه د "زور، زر، او تزوير" د لارې، د افغانانو د غوڅ اکثريت په خوښه د يو غښتلي او ملي مرکزی ملي حکومت د جوړېدو منځ ته راتلل او د هغې ساتل او ملاتړ هغه موخه او هدف دی چې د هغه په رڼا کې د دعوت ملي خپرونه خپله مبارزه او سرښندنه مخ په وړاندې بيائي.

خو!

د دې څراغ د روښانه ساتلو د پاره د ګرانو لوستونکو مالي، قلمي مرستو او همکاريو ته د هر وخت نه خورا زيات ضرورت دئ، که زموږ د پالیسۍ او د دعوت د ملي خپروني د محتوا سره موافق ياست نو موږ د دې جوګه کړئ چې د دعوت مېډيا خپروني او دعوت خپرونه د نړۍ او ګران افغانستان ګوټ ګوټ ته ورسوو، او د هغه ناامیده هیوادوالو له پاره د امید ډيوې روښانه کړو، کوم چې د ډول ډول ناخوالو له امله يې خپل امید د لاسه ورکړی دی، او داسې چيرته چې افغان وي هلته دعوت وي ياني دا چې ډېرو هيوادوالو ته دعوت ورسيږي او زموږ هڅې به هله بيځايه نه وي چې يو زيات شمير هيوادوالو ته مو دعوت رسولی وي او دې هدف ته رسيدل ستاسو درنو هيوادوالو او د دعوت مينه والو د مالي مرستو پرته ناشوني دي.

زموږ هيله د درنو لوستونکو څخه دا ده چې په دې لاره کې خپلې مرستې ونه سپموئ.

خپلې مالي مرستې په همدې مخ کې په ليکل شوي پته راواستوئ:

د بانک او يا هم د پاکټ په منځ کې د راجستر پوستې د لارې.

يو ځل بيا وايو :

((دعوت میډیا د افغان ولس پرته د هیواد د هیڅ سیاسي ډلې نمایندګي نه کوي او نه د خپلو خلکو پرته د چا پوري تړلې ده. دعوت میډیا د افغان ولس ريښتينی غږ او د هغو له پاره خپروني کوي ښوک چې د افغانستان په باره کې فکر او د مسئوليت احساس کوي. د دعوت د خپلواکو رسنيو مرکز د پخوا نه زيات اوس ستاسو مالي مرستو ته اړتيا لري))

ستاسو نه مخکې له مخکې مننه

د دعوت اداره

## دعوت مېډيا ستاسو او ستاسو له پاره

دعوت چې د ناروې د هیواد نه خپرېږي. د افغان ولس پرته د هیواد د هیڅ سیاسي او غیر سیاسي ډلې استازيتوب نه کوي. دعوت د افغان ولس ريښتينی غږ او د هغو له پاره خپرېږي څوك چې د افغانستان په باره کې فکر او د مسئوليت احساس کوي. په دعوت کې د خپرو شوو ليکنو مسئوليت د درنو ليکوونکو په غاړه دی او شرط نه دی چې هره ليکنه دې د دعوت د نشراتي پالیسۍ سره برابره وي.

**DAWAT MEDIA CENTER,**
V/ M. Tariq Bazger,
Voldgt.37A,
2001 Lillestrøm, Norway
Tel. +47-63844384
Mobil: +47-90856195

ISBN: 978-82-691395-2-5
Orgnr (Reg#): 985160058

د انټرنت په نړیواله شبکه‌زموږ دويبپاڼو پتې

د دعوت مې ويبپاڼه:

www.dawatmedia24.com

زموږ د برېښنا ليک پته: dawatmedia@gmail.com

د دعوت بانکي پته:

DNB Bank AC # 0530 2294668

له ناروې بهر د نړیوالو تادیاتو حساب

Account for international payments:
NO15 0530 2294 668
Vipps: #557320 :د ویپس شمېره

**څنګه کولی شئ د دعوت مېډیا مالي مرسته وکړی:**

خپلې مرستې (پيسې) د بانک په پته راوليږي. د دعوت مالي منبع د افغانستان خلك دي. د دعوت د خپلواکو رسنيو مرکز د فعال ساتلو او د شووژمنو د پوره کولو له پاره ستاسو مالي مرستې زموږ د بریالیتوب او لاښه پرمختګ زيری دی. هر افغان بايد تر خپله وسه د خبرو پرځای د عمل ډګر ته راووځي، خپل مسئوليت احساس او پوره کړي وخت د عمل دی نه د خبرو.

## داکټر استاد روستار تره کی د دعوت سره په مرکه کې:

# اړینه ده چې طالب د قدرت د انحصار لیونتوب پریږدي او په حکومت کې تکنوکراټانو او متخصصینو ته ځای ورکړي

### دعوت د ملي او اسلامي ارزښتونو د دفاع په دریځ کې له آزمون نه بریالي وتلې دي

محمد طا رق بزګر: استاد تره کی دا چې د مرکې له پاره مو وخت راکړ مننه کوم. له هر څه مخکې که وپوښتم تاسو به تیرو شلو کلونو د خپلو لیکنو او مرکو د لارې د طالبانو پلوی او د هغوئ له پاره په ملیګرا افغانانو کې یو وتلی غږ وئ. ایا اوس هم د طالبانو په هماغه اندازه پلوي یاست، په داسې حال کې چې هغوئ اته، نهه میاشتې کیږي چې واکمن دي. کړه وړه او سیاست مو تر یوه حده ولید. تاسو ورته اوس په کوم نظر ګورئ؟

استاد روستار تره کی: زما په اند طالب د یو مذهبی تحریک په چوکاټ کې نه خلاصه کیږي. طالبان د یرغلګرو په وړاندې د افغانو د تاریخي مقاومت غورځنګ دي. ما د طالب د مقاومت د یو بلا منازع ولسي خوزښت په توګه ملاتړ کړې دي. په افغانستان کې د تاریخي تجربې له مخې مذهب مقاومت ته انرژي وربښلې ده. په افغانستان کې د مذهبي جذباتو نه جلأ مقاومت نه جوړیږي. زه پدې باندې خوشاله یم چې لمړي وار مې د مېډیا له لارې د مقاومت ترمنولوژي د طالبانو په آدرس وکاروله.

یرغلګره امریکا پدې باندې ښه پوهیده چې په افغانستان کې د پراخ مقاومت سره مخ ده او جګړه ګټلې نشي. له همدې کبله یې د جګړې په پیل کې د طالبانو نوم په تروریست لیست کې ثبت نکړ. بالاخره امریکا په دوحه کې طالبانو سره خبرو ته کیناسته او هغوی یې د مقاومت په حیث په دیفکتو ډول په رسمیت وپیژندل. دا د مقاومت د ترمنولوژۍ په ځای او په موقع کارولو اغیزمنتوب ګڼلې شو.

دوه لاملونو وهڅولم چې د اشغال په موده کې د طالبانو د دریځ په ملاتړ ودریږم :



- د استعماري تجربې له مخې امریکا پرته د ټوپک د زور څخه افغانستان نه خوشې کاوه او د طالب نه په غیر د بهرني اشغال په وړاندې بل وسله وال الترنتیف موجود نه وو.
- یرغلګرو ځواکونو د کورنیو اجیرانو په مرسته د پښتنو په میشته سیمو کې په سیستماتیکه عام وژنه (ژنوساید) لاس پورې کړې وو چې باید په واقعیت باندې ولاړ غبرګون سره مخ شوی وای.
- طالبانو د قومي ډیرکي (اکثریت) د بستر څخه سر راپورته کړ. قومي اکثریت د افغانستان د موجودیت ساتنې رسالت د ځان حق ګڼي او په جګړه ځپلي افغانستان کې د بهرنیانو د وتلو څخه وروسته د امنیت او سیاسي ثبات د تأمین پوتانسیل او وړتیا جوړوي.

نهه میاشتې کافي وخت نده چې د طالبانو په هکله نهایي پریکړه وکړو. خو داسې نښې نښانې لیدل کیږي چې د کورنیو او بهرنیو فشارونو لاندې، طالبان د نوي افغانستان د واقعیتونو په لور په ډیر احتیاط مصلحتي ګامونه اوچتوي.

**محمد طا رق بزگر : ولې د طالبانو پلوي واست په داسې حال کې چې تاسو د سیاسي علومو استاد یاست او په ظاهر مو هیڅ څه د طالبانو سره شریک نه دی، په داسې حال کې چې په طالبانو تل د افغانانو او نړیوالو دا نیوکه وه او ده چې دوئ د پاکستان نیابتي جګړه په افغانستان کې مخته وړه او اوس هم تر ډیره د پاکستان د ګټو او سیاست پالونکی دي د دعوت مجلې او دعوت مېډیا ۲۴ ویبپاڼې لوستونکو او خپلو مینه والو ته مو ځواب څه دی؟**

**استاد روستار تره کی:** زه پدې باور یم چې د بهرنیو قوتونو د حاکمانه حضور په وړاندې د طالبانو نه ملاتړ یوه حیاتي اړتیا وه. د طالبانو د مقاومت په برکت اشغال پای ته ورسید. یو لاسپوڅې فاسد او جنګسالار نظام چې هیواد یې د توټه کیدو کندې ته نږدې کړې وو له صحنې څخه ووت. بله واکمنې چې د ملي ارزښتونو ( تر یوې اندازې پورې ) او اسلامي تقوا پر بنسټ باندې ولاړه ده رامنځته شوه. په دې کې شک نشته چې نوې نظام نیمګړتیاوې لرې چې تمه یې کیږي هر څومره ژر لرې شي. خو ستاسو په تعبیر که د طالب واکمنې بده وګڼو د مخکنې بد تر نظام بهتره ده.



طالبان د مقاومت او جهاد په موده کې له څو درجن مدرنې وسلې سره سمبال بهرنیو قوتونو سره مخ وو. طالب د جګړې د الزاماتو له مخې دیته اړ وو چې د پاکستان لوژستیکې مرستې تر لاسه کړې او د آی اس آی جنګې اجندا سره شریک شي. خو افغانان تمه لرې چې نوې واکمنې پدې واقعیت باندې ځان پوه کړې چې د مقاومت په دوره کې طالبان د یو تحریک په حیث له پاکستان سره په تعامل کې وو. اوسمهال د حکومت واک په غاړه لرې چې باید د نورو دولتونو سره د یو آزاد، خپلواک او مسئول دولت د واکمن په حیث تعامل ته ورګډ شي.

**محمد طا رق بزگر : ایا طالبان تاسو سره اړیکه لرې منظور مې د دغه ډلې مشران دی؟**

**استاد روستار تره کی:** په ۱۵ وروستیو کلونو کې په انفرادي دول یا له پلاوې سره درې وار قطر او افغانستان ته لاړم او د طالب مشرانو سره مې وکتل او خبرې مې ورسره وکړې. هغوی سره د پوهاوي او کاري ملګرتیا اړیکې رامنځته شوې چې په ترڅ کې یې کله ناکله په کاري چارو کې له ما څخه مشورې غوښتلې. خو کله چې طالبانو په سیاسي قدرت قبضه ولړوله خپلې اړیکې یې له ما سره پرې کړلې.

**محمد طا رق بزگر : د دغه دوه مخیز چلند لامل څه وو ؟**

**استاد روستار تره کی:** څو لاملونه په ګوته کولې شو :

- طالبان د امریکایانو سره د اوږد مهالو مذاکراتو په موده کې غوښتل چې خپل تحریک د مکتبیانو او روڼ اندو په وړاندې د زغم، اعتدال او پراخ نظر خاوند وښیې. د امریکایي لښکرو د وتلو څخه وروسته، امریکایانو ته دا ذهنیت ورکړې چې طالب له روڼفکرو او تکنوکراتانو سره د یو حکومت تر چتر لاندې ګډ کار کولې شي. وروسته معلومه شوه چې د طالب دریځ یوازې مذاکراتي تکتیک او چل ول سره تړاو درلود.
- طالبان د دیني مدرسو فارغان دي. د اسلام د صدر نه نیولې تر اوسه پورې د مکتب او مدرسی تر منځ تقابل د حل لاره نده موندلې. طالب په آساني خپل ذهن او دماغ د هغو عقدو چې د مکتب په وړاندې یې لرې، پاکولې نشي.
- د طالب ایدیولوژۍ، اسلام ته د نړۍ په کچه پام اړوې. د ناسیونالیزم او وطن پالنې سره سمبال مکتبي، اسلام په محدوده جغرافیا کې ایساروي. پدی بنیاد طالب له مکتبي سره په آساني نه جوړیږي.
- له روڼفکرو سره تعامل د طالب په صفوفو کې حساسیتونه راپاروي. طالب مشران اړتیا احساسوي چې د انشعاب د مخنیوې په مقصد، د خپلو محافظه کارو لیکو رضایت ځان سره وساتي.

طالبان ټول پدې باندې د نظر یووالی لرې چې د سیاسې قدرت انحصار د هغوی د قربانیو په بدل الهي پاداش دي.

**محمد طا رق بزگر : ګرچه پوښتنې به سره نژدې وي پوښتنه مې دا ده چې له طالبانو خو په خپل ملاتړ پښیمانه نه یاست؟**

**استاد روستار تره کی:** عثمان تره کي په پوهنتون کې د حقوقو د یو شوونکې په حیث د اشغال او تیرې په ضد د اصولو نه دفاع کړې ده. په

جګړه ایز حالت کې باید اصول او پرنسیپ د پوهنتون د حریم او د تیوري له کچې څخه ووځي او آزادي غوښتونکو جنګیالیو لاس ته ولویږي او د دوي مبارزې ته مشروعیت وبښي. طالب جنګیالي د دغه اصولو انساني ظرفیت وو چې باید زموږ له مسلکي مرستې څخه برخمن شوې واي.

د مخکني لاسپوڅي نظام په ځای د نوې واکمنې راتګ د وطن پالو افغانانو د پاره زیرې وو. په دا لږه موده کې د طالبانو په حکومتولۍ کې نیمګړتیاوې او غلطې دومره د پام وړ نه ښکاري چې د پښیماني لامل وګرځي.

خو که طالبان سیاسي قدرت د خپل تحریک د انحصار څخه ونه باسي، کورني مشروعیت ته پام وانه ړوي، مکتبیانو سره تعامل ونکړي او ملي خاینانو سره معامله وکړي، دا احتمال شته چې ما غونډې طالب پلویان د مخالفینو د نوې جبهې د جوړیدو پریکړه وکړو.

نن طالبانو د نجونو پر وړاندې د لیسو دروازې وتړلې. دا د جهالت ورانونکې نښه ده، چې د طالب دښمنانو ته تبلیغاتي اومه مواد برابروي او طالب پلویان د طالب ملاتړ څخه پښیمانه کوي.

محمد طا رق بزګر: په تیرو شلو کلونو کې تاسو د طالبانو ملاتړ او د امریکا او ناتو د قواو په ضد ښکاره او واضح دریځ درلود چې له هیڅا پټ نه دی. ایا په تیرو شلو کلونو د کوم ډول تهدید او یا ستونزو سره مخامخ شوی یاست؟

استاد روستار تره کی: په تیرو کلونو کې درې ځلې افغانستان ته ولاړم. د مخکنې حکومت په وخت کې د سیاسي فعالینو سره زما تماسونه او اړیکې تر سخت کنترول لاندې وی. کله کله تیلفوني ګواښونه راته رسیدل. یو وار د اختطاف له خطر څینی بچ شوم.

د میډیا او مطبوعاتو په ساحه کې د طالب دښمنانو ما غونډې کسان د نکتایی پوشه طالب په نامه یادول او د ښکنځلو او تحقیر نه ډک لفظونه یی نثارول.

محمد طا رق بزګر: تاسو د یو ډاکټر او د پوهنتون او سیاسي علومو د یو مشهور استاد او د یوې لویې علمي کورنۍ د یو غړي په توګه چې خپل وطن او لویدیځ درته ښه معلوم دی، د یوویشتمې پیړۍ د علمي او تخنیکي غوښتنو ته په کتو ایا د افغانستان په شان هېواد واک چې د طالبانو په لاس کې دی دوی به وکولی شي د وخت او زمان غوښتنې درک او ځواب کړي؟

استاد روستار تره کی: په وروسته پاتې هیوادونو کې کلتوري واټن د کلیوالي او ښاري ژوند تر منځ ډېر زیات دی. د دیني مدرسو په درسي نصاب کې چه طالب سبق ویلې عصري علوم ځای نلري. طالب د کلیو او بانډو څخه سر راپورته کړي او د دیني پوهاوي نه پرته عصري علومو کې لاسرسي نلري.

په ۲۱مه پیړۍ کی عصري علوم د ښې او اغیزمنې حکومتولۍ بنسټ جوړوي. بناً اړینه ده چې طالب د قدرت د انحصار لیونتوب پریږدي او په حکومت کې تکنوکراتانو او متخصصینو ته ځای ورکړي. د طالب او غیر طالب د ترکیب څخه ښه حکومت چې د امنیت د تأمین جوګه شي، د بهرنیو له خوا په رسمیت وپیژندل شي او د مرستې د جذب وړتیا ولري، جوړولای شو.

محمد طا رق بزګر: تاسو د پوهنتون د یو استاد په توګه کله چې د طالبانو د لوړو زده کړو د وزیر نظرونه او خبرې اورئ څه احساس درته پیدا کیږي؟

استاد روستار تره کی: د طالبانو د لوړو زده کړو وزیر خبرې د اهل پوهنتون په آدرس تر یوې اندازې پورې له واقعیتونو سره اړخ لګوي: په تیرو نظامونو کې پوهنتون د مختلفو ایدیولوژیو د تقابل مرکز ګرځیدلی وو. پوهنتون خپل اکادمیک ماموریت یوې خوا ته ایښې او په بشپړه توګه سیاسي شوی وو.

په څلور لسیزو کې دا د پوهنتون فارغان وو، چې د بهرنیو اشغالګرو قوتونو په زور پر خلکو باندې واکمنان شول او ناورین وزږید. نور محمد تره کي، ببرک، نجیب، رباني، کرزي او غني د پوهنتون فارغان او د بهرنیو جاسوسي شبکو فعالین وو چې خپل ګور او ایمان یی په پردیو خرڅ کړې وه او د بهرنیانو په خدمت کې د افغانستان د ملي ګټو په ضد استعمالیدل.

خو د لوړو زده کړو وزیر باید د پوهنتون د ټولو فارغانو په پته چره یي ډزې نه واې کړې: پوهنتون د ناوړو تولیداتو په څنګ کې، د افغانستان د ریښتینو بچیانو چې د استبداد او بلواکې پر ضد د مبارزې ریکاردونه لري زانګو ګڼلې شو.

د پوهنتون د مبارزاتو وروستي کاروان د استادانو هغه اتحادیه ده چې د شورویانو د یرغل په پیل کې زما په سروالي د اشغال ضد دریځ ونیو او قرباني یې ورکړه.

محمد طا رق بزګر: په افغانستان کې ښوونیز سیستم او لوړې زده کړې ستاسو په نظر کومې خواته رواني دی ایا داسې خو نه ښکاري چې د افغانستان تعلیمي سیستم د سقوط خواته روان دی؟

استاد روستار تره کی: د افغانستان راتلونکې تعلیمي نظام د کمیت او کیفیت څرنګوالي راتلونکې حکومت ترکیب پورې تړاو لري: که د طالبانو اوسني « ملأ کراسي » حکومت دوام وکړي، دا احتمال شته چې په درسي نصاب کې د عصري علومو په تاوان څه بدلون راوستل شي. خو که د ملایانو او تکنوکراتانو څخه حکومت جوړ شي، د امکان

نه لرې نده چې درسي نصاب د روحانیت او مدرنیته په سمبول بدل شي.

**محمد طا رق بزگر: د یو هېواد څخه د تعلیم یافته طبقې تېښته او وتل به د افغانستان په شان یو جګړه ځپلي او وروسته پاتې هېواد له پاره په لنډ او اوږد مهال کې څه وي؟**

**استاد روستار تره کی:** بېرته پاتې هیوادونو د پاره د مغزونو تیښتې ته د ناورین په سترګه کتل کیږي. د اټکل له مخې نیمی پیری جګړې سلهاو زره متخصصین او تکنوکراتان دیته اړ کړل، چې بهر ته کډه وکړي. د متخصصینو ډله ایز مهاجرتونه افغاني ټولنه له ټولنیزې نا انډولي سره مخ کړه چې په نتیجه کې محافظه کار قوتونو برلاسي وموندله. د افغانستان په سیاسي ستیج کې د طالبانو پیاوړې راتګ زموږ د ټولنې د نا انډولي زېږنده ده.



د ټولنیزې نا انډولي سره مقابله وخت ته اړتیا لري چې په ترڅ کې یې عصري معارف ته پام واړول شي او افغاني متخصص کډرونه وطن ته راستانه شي.

**محمد طا رق بزگر : افغانستان ته خو د تلو اراده نه لرئ او که لرئ یې هدف مو د تلو څخه څه دی؟**

**استاد روستار تره کی:** نه غواړم پدې حساس وخت کې چې طالبان په کور د ننه او د باندې له انزوا سره مخ دي او مسلکي کسانو مشورتې ته اړتیا لري هغوي یوازې پرېږدم. خو دا باید معلومه شي چې طالب د نکتایي پوش خبره اوري که نه ؟

**محمد طا رق بزگر: له ملي بیرغ سره د طالبانو دښمني څه انگیزه لرلي شي ؟**

**استاد روستار تره کی:** یو شمېر طالبان نه یوازې له ملي بیرغ سره بلکې له نورو ملي جوړښتونو (لکه لویه جرگه، ملي شوراً) او ملي شخصیتونو (لکه امان الله خان) سره مخالفت لري. د مخالفت وجهه عقیدوي او ایدیولوژیک ګڼلی شو:

- ایدیولوژیک پدې معنا چې د طالبانو یوه ډله د اسلامي نړیوال جهاد د تفکر تر اغیز لاندې د ملي جغرافیا څخه پورته د اسلامي انقلاب د پاخون په خیال کی ډوب دي.
- عقیدوي پدې ډول چې طالبانو د پاره ایډیال نظام هغه دي چې د شوراي اهل حل او عقد، امربالمعروف، کفر او اسلام، حلال او حرام د ضوابطو په چوکات کې جوړ شي. طالبان د دغه نظام د چینل له لارې ځان د پراخې اسلامي نړۍ سره چې پوله نه پېژني، تړي. پدې تعامل کې ملي تفکر حاشیې ته لوېږي.

د ملي بیرغ سره د طالبانو مخالفت سیاسي اړخ هم لري: د آی، اس، آی یو شمېر روزل شوي طالبان د افغاني- ملي ارزښتونو د ضدیت په درېځ په افغانستان کې د پاکستان اجنداً مخته وړي: پاکستان تمه لري چې طالبان سوچه اسلامي تحریک او د ملي تفکر او ارزښتونو نه بې برخې پاته شي. تر څو چې د اسلام د لښکر په روحیه د افغانستان د ملي جغرافیا څخه لرې (مثلاً په کشمیر کې) وکارول شي.

**محمد طا رق بزگر: ځینې کسان چې حتی د افغانستان ملي بیرغ، ملي سرود او د افغانستان نوم نه مني، حتی ځان افغان نه ګڼي او د تیرو شلو کلونو د واک ډیره برخه د همدوی په لاس کې وه، دغه کسان اوس د ملي مقاومت خبرې کوي ایا له دوئ څخه به څه جوړ شي په داسې حال کې چې د هر څه درلودلو پر وخت یې له تېښتې پرته بل څه ونه کړل آیا اوس به څه وکړای شي؟**

**استاد روستار تره کی:** د طالبانو په راتګ سره ګڼ شمېر لنډه غران، خاینان، جنګسالاران، حرفوي قاتلان او جنایت کاران چې د بهرنیو قوتونو په غیږ کې سیاسي تشخص موندلي وو د بازخواست د ویرې نه د ډیرو پیسو سره وتښتیدل. طالبان چې ځان د اسلامي عدالت مخکښان ښیي باید د ټولو غلو او جنایت کارانو سره د حساب او کتاب د تصفیې یو سیستم رامنځته کړي. خو لمړې طالب باید د کورنې مشروعیت خاوند شي تر څو چې د یو پیاوړې حقوقي درېځ په بنسټ باندې جنایتکارانو پر خلاف جګړې ته ورداخل شي.

اوسمهال په بهر کې جنګسالاران او جنایتکاران د بهرنیو جاسوسی شبکو په خدمت کې دي او د طالبانو په ضد استعمالیږي. طالبانو ته مزاحمت به تر هغه وخته پورې ادامه ولري چې طالبان د تکنوکراتانو سره په ګډه د رسمیت پیژندنې وړ یو حکومت نه وی جوړ کړي.

**محمد طا رق بزگر : یو زیات شمېر افغانان په دې نظر دی چې نظام او د تیرو شلو کلونو لاسته راوړنې په دوحه کې د امریکا او طالبانو خبرو او موافقې له منځه یوړې، افغان حکومت امریکا ځنډې ته کړ او په پایله**

کې يې نظام طالبانو ته د پاکستان او طالبانو سره د يوې موافقې له لارې وسپارل شو. تاسو تر کومه د دې نظر سره موافق یاست؟

استاد روستار تره کی: څو ټکو ته مو پام اړوم :

- امریکا د ۲۰۱۴ م کال راهيسې کله چې د نظامي ائتلاف نورو هيوادونو يو بل پسې خپل پوځيان له افغانستان څخه وويستل، دې نتيجې ته ورسيده چې جګړه په بوازيتوب مخې ته نشي وړې. دغه واقعيت چې د امريکا لښکر هرو مرو د افغانستان څخه وځي، د امريکا او طالبانو تر منځ د اوږد مهالو مذاکراتو په موده کې پټ پاتې نشو. طالبان د امريکا پوځ وتلو ته په انتظار کيناستل.

- امریکا د مذاکراتي پروسې په موده کې کابل اداره د دې د پاره څنډې ته کړه چې پدې باندې پوهيده چې د کابل اداری پايښت له بهرنيو قوتونو حضور سره تړل شوې او کابل ته منسوب د سولې پلاوې د مذاکراتو نه د «طال چال» (دفع الوخت) د لاسوند په توګه کاروې تر څو چې امريکايي پوځ په افغانستان کې پاتې شي. بناً که په مذاکراتو کې کابل اداره شريکه شوې واى، د سولې خبرې به هيڅکله پايته ته نه وی رسيدلې.

- کابل اداره څنډې ته سپارل زموږ په خير تمام شو: ملي خاينان او جنايت کاران چې غوښتل يې د سولې نه وروسته په حکومت کې ونډه ولري، د پروسې څخه لرې شول.

په هر حال ! امریکا افغانستان باندی د نړيوالو قوانينو خلاف يرغل وکړ او د هيواد نه په غير مسئولانه ډول وتښتيده. امريکا د دې په ځاى چې خپل مسئوليت وپيژني او د افغانانو څخه معذرت وغواړي په امريکايى بانکونو کې د افغانستان کنګل شوې پيسې غلا کوي.

محمد طا رق بزګر: د طالبانو حاکميت په باره کې مو نظر څه دی؟

استاد روستار تره کی: طالب مشرانو ښودلې چې سیاسي، ټولنيز او فرهنګي اعتدالي دريځ خواته اغيزمن حرکت کولي شي. خو دوی د ليکو تر فشارونو لاندې اعتدال خواته په ډير احتياط ګامونه اوچتوي.

نړيواله ټولنه بايد تيره تجربه تکرار نکړي: طالبان کله چې د خپلې لمړنې واکمنې په دوره کې منزوي او له کلکو اقتصادي بنديزونو سره مخ شول، نو د زور زياتې په وړاندې يې غبرګون وښود. د دوی دريځ دومره راديکال شو چې د باميان په بتانو باندې يې د جنايت نه ډک بريد وکړ.

نړيواله ټولنه بايد له طالبانو سره د تعامل او تفاهم پر بنسټ ولاړ سیاست وچلوي.

محمد طا رق بزګر: افغانستان ته جدي خطر په اوسنی وخت کې څه دی؟

استاد روستار تره کی: که ناوړه خطرناکه اقتصادي حالت دوام وکړي خلک نور هم ډله ايزو مهاجرتونو ته اړ کيږي. د امريکا له خوأ د افغانستان د پيسو غلأ چې په حق ورته اقتصادي تروريزم نوم ورکولای شو راتلونکې ته د ناهيلي او عدم اطمينان فضأ رامنځته کړيده.

راتلونکې ته بل خطر د طالبانو ديپلوماتيکه انزوا او کورني عدم مشروعيت دي چې که دوام وکړي افغانستان د نړيوالی تولنې تر ديپلوماتيکو او اقتصادي فشارونو لاندې لا ډير تاواني کيږي.

محمد طا رق بزګر: د طالبانو ستونزه څه شی دی؟ نړيوال د دوی په خبره نه پوهيږي او که دوئ نړيوال نه شي درک کولای؟

استاد روستار تره کی: په افغانستان کې دوه نړې سره په تقابل کې دی: اسلامي نړې چې په نا حقه طالبان يې استازيتوب څانته منحصروي او غير اسلامي نړې چې لويديځ د هغې د سروالي ادعا کوي.

په اسلامي هيوادونو کې د ښکيلاک د جنايتونو خاطرې، د دوه نړيو ترمنځ د نا باوري فضأ رامنځته کړې. د دواړو تر منځ ګډه ژبه هغه وخت راپيدا کيږي چې لويديځ د خپلو تيرو غلطيو په خاطر تلافي جويانه اقدامات وکړي. د نورو ملتونو په وړاندې د تحکم او غرور د دربار نه ښکته شي. بيوزلو مخکنيو مستعمراتو ته يغما شوې طبعي شتمنې د مرستې په ډول ورکړي.

په ۲۰ کاله کې امريکا او ملګرو يې د يو فاسد حکومت چې لويه برخه يې د ملي خاينينو او جنايتکارانو څخه جوړه شوې وه، ملاتړ وکړ. اوسمهال هم امريکا د افغاني فاسدو کسانو تر شأ ولاړه ده او هغوی د طالبانو پر ضد استعمالوي. له دينه معلوميږي چې دا لويديځ دي چې د طالب په ژبه نه پوهيږي.

محمد طا رق بزګر: د طالبانو د تيرو اتو مياشتو کارونو ته په کتو ايا د طالبانو واکمني به دوام وکړي؟

استاد روستار تره کی: طالبان د يو پياوړې خوزښت په توګه چې د افغانستان د نفوسو په قومي ترکيب کې ډيره کې شميرل کيږي، په واک باندې قبضه ولګوله. طالبانو ته د يرغلګرو نه ٦٠ ملیارده ډالرو په بيه غنيمت شوې وسلې په ميراث پاتې شوی. طالبانو په زوره سياسی قدرت تر لاسه کړ او يوازې د يو زبر ځواک د زور له لارې د واک نه لرې کيداې شي. زه خو دا احتمال چې امريکا دومره ليونی شي چې بيرته افغانستان ته راوګرځي نه وينم.

محمد طا رق بزګر: ايا د طالبانو د واکمنی پر وړاندې جګړه د حل لار ده او که افغانان نور په هر حال له جګړو ستړي دي؟ که طالبانو د افغان ولس د اکثريت غوښتنې ونه مني لکه تر اوسه چې طالبان هر څه په خپله خوښه مخته وړي نو حل لار ستاسو په نظر څه ده؟

**استاد روستار تره کی:** طالبانو ضد جګړه د طالبانو دریځ رادیکالیزه کوي. طالبان د بنسټ پالو ډلو لکه القاعده، داعش، سپاه صحابه، لشکر طیبه او ... لمنې ته غورځوي.

طالبانو په لږه موده کې د پام وړ مثبت کارونه هم کړې: د پوهنتونو دروازې خلاصې شوې. د مطبوعاتو آزادي د ښځو په ګډون په ښه انداز لیدل کیږي. د معتادینو د معالجې پروګرام په جدیت تر لاس لاندې ده. مامورینو ته معاشونه رسیدلي.

له بلې خوأ موږ د طالبانو د لنډ مهاله حکومت سره مخ یو چې باید خپل واک نوې حکومت ته وسپاري. زموږ د غوښتنې کچه باید د لنډ مهاله حکومت د حوصلې څخه ډیره نه وي.

په هر حال ! د یو پراخ بنسټ حکومت د جوړیدو په تمه چې په کې د طالبانو څنګ ته متخصصین او تکنوکراتان ونډه ولري، باید پر طالبانو باندې دیپلوماتیک، سیاسي، مېډیاتیک او مطبوعاتي فشارونه دوام ومومي.

نړیواله ټولنه باید طالبان د یو سیاسي واقعیت په توګه ومني او د هغوي بدیل پسې ونه ګرځي . د طالبانو سره د مکافاتو او مجازاتو پر بنسټ باندې سیاست وچلوي.

**محمد طا رق بزګر: په عمومي ډول مو افغانانو ته پیغام څه دی چې هر افغان د خپل وطن او خلکو په وړاندې څه مسئولیت لري او په دې حساس او ستونزمن وخت کې باید څه وکړي؟**

**استاد روستار تره کی:** افغانستان په ډیر بد حالت کې قرار لري. د سولې او ثبات اوسني چانس چې مو په برخه شوي نباید په وړیا له لاسه ورکړو.

د اوسني واکمنې سره جوړونکې مخالفت چې خیر غوښتنې په کې وي د ټولو افغانانو حق او وجیبه ده. خو د قوم او سیمې د جذباتو پر بنأ دشمنې د توجیه وړ نه ښکاري.

طالب څواک د افغانستان د تباهې او بربادې په وړاندې پر واقعیتونو باندې ولاړ غبرګون دي. د طالب نه جلأ د امنیت او سولې بل بدیل نلرو.



طالب دښمنو کړیو چې د خیانت او شیطنت دوسیې لري، باید د افغانستان د ملي ګټو پر ضد د بهرنیو جاسوسي شبکو لاسوند ونه ګرځي.

اړینه ده چې طالب واکمن د نړیوالې ټولنې مشروع غوښتنو ته غاړه کیږدي. د دین او مذهب په نامه د متمدنې نړی د ارزښتونو په وړاندې تقابل ته د پاي ټکې کیږدي. د تکنوکراتانو او متخصصینو په ملګرتیأ د اوسني ملي او اسلامي نظام بنسټ پراخه کړي. د کورني مشروعیت او بهرني رسمیت پیژندنی زمینه برابره کړي او نظام د انزوا څخه وژغوري.

**محمد طا رق بزګر: د طالبانو د صحرایي محکمو په اړه مو نظر څه دی په داسې حال کې طالبان هیڅ ډول صحرایي محکمې نه منې او وایې هر څه ګل او ګلزار دی او د هر څه د طالبانو د دښمنانو تبلیغات دی؟**

**استاد روستار تره کی:** صحرایي محاکمه د هغو هیوادونو چې اوږد مهاله جګړه یې له سره تیره کړیده، طبعي پدیده ګڼلې شو. صحرایي محاکمه د شخصي غچ اخیستنې پر محور باندې راڅرخي او تر هغه وخته پورې به دوام مومي چې جګړه پایته ورسیږي، حکومت ثبات او مشروعیت پیدا کړي او دولت تیر مجرمین او جنایت کاران محکمې ته راکش کړي.

د مجرمینو سره حساب او کتاب هغه وخت د فردي غچ اخیستنې د چوکات څخه دولت ته انتقالیږي چې واکمنې ثبات او مشروعیت ولري.

**محمد طا رق بزګر: د یو هېواد ازادی ستاسو له نظره څه ته وایې؟ دا چې طالبان وایې موږ وطن ازاد کړی نور مو الله مل شه که وږی یا ماړه یاست نور زموږ مسئولیت نه دی.**

**استاد روستار تره کی:** خدای انسان ته د خیر او شر د تشخیص او د ژوند د چارو د تنظیم عقلي او فزیکي وړتیا وربښلې ده. دا چې انسان پدې تمه چې خدای تعالی روزي رسوي حرکت ونکړي او خدای ورکړې ظرفیتونه په کار وانچوي د دیني تفکر سره اړخ نه لګوي.

دا ذهنیت چې خپل اړتیاو د پوره کولو په مقصد خدای مهرباني ته په انتظار پاتې شو او حرکت ونکړو په حکومتولې کې خطرناک حالت رامنځته کوي:

د واکمنانو د بیکفایتي او ناوړه اعمالو مسئولیت نعوذ بالله خداي ته حواله کیږي نه حکومتي مسئولینو ته.

محمد طا رق بزگر: که لږه شخصي پوښتنه وکړم نن سبا په څه بوخت یاست او څه کوئ؟ ورځني فعالیتونه مو څه دی؟

استاد روستار تره کی: زه زیاتره وخت په مطالعه تیروم. د مېډیا له لارې د زخمي هیواد حالت تعقیبوم.

څو کاله مخکې د افغانستان د وروستیو پیښو په اړه زما د یو کتاب لمړی ټوک چاپ شو. که ژوند پاتې وو د کتاب دوهم ټوک بشپړوم.

محمد طا رق بزگر: د دعوت رسنیز مرکز چې له ۳۵ کلونو راپدیخوا د ناروې له هېواده فرهنگی فعالیت کوي ستاسو نظر زموږ د کارونو په اړه څه دی؟ او موږ (دعوت رسنیز مرکز) په څه ډول خپل رسنیز خدمتونه په ښه او موثر ډول د هېواد دننه او بهر خپلو هېوادوالو ته کولای شو؟

استاد روستار تره کی: زه د روسانو د اشغال له وخته تر اوسه پورې په منظمه توگه د دعوت رسنیز مرکز سره قلمي همکاري لرم. د دغه همکارۍ دوام څو لاملونه لري:

- سانسور د دعوت په خپرونو کې ځای نلري. دا د لیکوال د نظر د درناوي نښه ده چې یې دعوت خپرونه د عقده یی خپرونو د کړنلارې نه جلا کوي.

- دعوت د ملي او اسلامي ارزښتونو د دفاع په درېځ کې له آزمون بریالي وتلې دي.

- د دعوت د اخبار او د سایت ډیزاین ښکلې او ستندرد بڼه لري. د موضوعاتو د تصنیف په برخه کې، دعوت د نورو خپرونو په پرتله متشخص ښکاري.

څو دعوت لږه نیمگړتیا هم لري:

- د افغاني سیاسي شخصیتونو سره د مرکو برخه نه په سترگو کیږي.

- علمي او مستندو لیکنو چې باید د سایت په لمړي مخ کې په دایمي توگه ثبت شوې واي نه لیدل کیږي.

- یو مطلب د سایت تر مختلفو عنوانو لاندې په تکرار ځاي نیسي او په کې گنه گونه جوړوي.

---

# دین، شریعت او حکومت

## آیا کولی شو د دین په نامه حکومت وکړو؟



لیکوال: داکتر نوراحمد خالدی

ژباړه: داکتر منیر احمد

آیا کولای شو د دین او شریعت په نامه حکومت او په سیاست کې مستقیمه لاسوهنه وکړو؟ آیا پدی برخه دینی لارښوونی موجود دی؟

دین او شریعت د بشریت لپاره لارښوونې دي ترڅو انسان د راتلونکي لپاره له داخلی ذهنی تلوسو نه خوندي وساتي، د هغه د معنوی کمال ته د رسیدو سره مرسته وکړی او د اخروی نیکمرغي لاره ورته هواره کړي.

آیا د حکومت جوړول او سیاستمداری یو دنیوی کار دی چې یوازې په دې نړۍ پورې اړه لري؟

په افغانستان کې د دوهم ځل لپاره واک ته د طالبانو د رسیدو سره دا ضروری ده چې یوې مهمې مسئلې ته چې د حکومت او دین موضوع ده پاملرنه وشي.

د اسلام په اهل سنت کې د شیعه مذهب په خلاف مسئله د امامت په نوم نده او نه مطرح کیږی. هیڅ سلطان، امیر، پاچا، ولسمشر، د دولت رییس یا امیرالمومنین نشی کولی د اسلام د پیغمبر په نوم حکومت وکړی.

امیرالمومنین هم د نورو امیرانو، پاچاهانو، سلاطینو او ولسمشرانو په څیر په خپل وخت یوازې د یوه هیواد حکمران دی. خلافت او حکومت هم په اسلامی هیوادو کې د نورو هیوادو په څیر د قدرت دبرلاسي، سیاسی ، نظامی ، حزبی، فرقه ای او نورو نیرنګونو پر مټ ولاړ دی، نه د الهی احکامو پراساس.

د سنی مذهب په ټولنو کې د امامت او ولایت فقیه مقام وجود نلری، د دین او سیاست بیلوالی یو طبیعی امر دی او د ځینو امیرانو ، سلاطینو او خلفاو د ادعا خلاف د حضرت پیغمبر له رحلت نه وروسته په څوارلس سوو کلونو کې د سیاست اړ دین ترمنځ بیلوالی موجود ؤ.

په دې برخه کې باید دوه اساسی اصول په پام کې ونیول شی:

الف: خدای انسان ته فکر او خرد ورکړی ترڅو په دې نړۍ کې د ځان لپاره د ژوندانه لاره هواره کړي، خپلې دنیوی چارې تنظیمذکړي. د هغې ترڅنګ یې شریعت هم رالیږلی ترڅو له انسان سره د معنوی ودې په چارو کې مرسته وکړي او د اخرت لاره ورته هواره کړي. له همدې کبله انسان د خپلو دنیوی چارو په سمبالولو کې استقلال لري او شریعت په هغو کې هیڅ ډول مداخله نلری، ځکه د هغه عقل له برکته چې خدای انسان ته ورکړی، هغه یې په عقلی چارو او له هغې ډلې حکومت او سیاست او ددنیوی چارو په سمبالولو کې خودمختاره پریښی ترڅو هرڅه چې صلاح وګڼي پیدا کړي.

ب: دین د خدای د رحمت ښکارندوی دی، د انسانانو له باطن سره سروکارلری، هیڅ پوله او حد نه پیژني او هرډول فرقه ای، ډله ایز او یا نژادی او اقلیمی تمایلات هلته ځای نلری، له همدې امله قهر، برلاسي او د زور تعمیل چې د سیاست او حکومت اساسی ځانګړتیاوې دي په دین او الهي شریعت کې ځای نلری.

دا دوه تفسیرونه دتاریخی شواهدو په استناد د دین او سیاست د بیلتیا او د دین د حاکمیت د نظریې د ردولو لپاره ټینګ استدلال رامنځته کوي.

یوه مصری لیکوال (محمد سعید عشماوی، الاسلام السیاسی) چې د دین او سیاست له ترړاو نه سخت منکر دی داسې لیکي:

خدتی غوښتل چې اسلام دین وی خو خلکو هڅه وکړه اسلام سیاست وګرزوي. دین پراخ او انسان شمول دی، خو سیاست محدود، لنډ، ډله مار، سیمه ایز او موقتي دی. په سیاست کې د دین محدودول د یوې خاصې ډلې او یوه خاص زمان په محدوده کې د هغه محصورول دي.

دین انسان د شرف او کمال تر ټولو لوړې پوړۍ ته جیګوی خو سیاست ترټولو ټیټې غوښتنې په هغه کې راپاروي. د دین په نامه سیاستمداري او یا په سیاسی بڼه دینداري ، دین دایمي شخړو او جګړو، حزب بازی او اوربلوونکو نښتو ته هڅوي.

برسیره پر دې موخو ته رسیدل پر چوکیو کیناستلو ، د غنیمتونو په غلا او د وجدانونو په ځپلو کېویني.

برسیره پر دې د دین سیاسی کول یا د سیاست دیني کول یوه هڅه ده چې اشرار او فجار یې ترسره کوي یا هغه بی منطقه عمل دی چې جاهلان یې کوي ځکه لاره فرصت غوښتونکو ته خلاصوي او د هغو د ناوړه کړنې په قراني ایاتو توجیه کوي. د هغو حرص او طمعې ته شرعي رنګ ورکوي او د هغو تیروتنې د ایمان تر څادر لاندې پټوي او هرډول وینه تویونه، ظلم او تیری یو جهادي عمل بولي.

هغه د رسالت په وخت کې د حکومت په باب چې شخصا د حضرت پیغمبر اکرم (ص) په اراده کې ؤ داسې لیکي:

کله چې د مومنینو سیاسي مشرتوب د دحضرت محمد (ص) په لاس کې ؤ د وحیې هدایاتو او د هغه له نظارت نه برخمن ؤ او هر اقدام یې چې ترسره کاوه د وحې ملاتړ ورسره ؤ ترڅو وویل شی چې د اسلامي عقیدې له مخې دا وحې وه چې سیاستمداري وردغاړې وه. او کله هم دا ډول انګیرل کیدل هرڅه چې پیغمبر کوي لامل یې وحې ده، خو حضرت محمد(ص) ویل چې: دا زما ڎوابدید او سیاسی انګیرنه ده او کله به یې چې د مشورو په وخت دا تشخیص کړه چې مخالفه رایه سمه ده نو ویل به یې: انتم اعلم بشوون دنیاکم; تاسو په خپلو دنیوي کارو ښه پوهیږی.

که دا تعبیر په مسامحت کې سم وي نو په حقیقت کې دا د خدای حاکمیت ؤ چې د وحې له لارې پلې کیدو. حاکم هم چې اکرم پیغمبر ؤ د خدای له خوا ټاکل شوی ؤ او مومنینو چې محکومین ګڼل کیدل د دې ټاکنې په وړاندې د اعتراض حق نه درلود. نوځکه هرچا چې اسلام منلی ؤ مجبور ؤ چې د پیغمبر هم د سیاسي چارو د تدبیر لپاره ومني.

خلکو دا ډول یوه حکومت ته چې له دین نه یې سرچینه اخیستې وه په خپله خوښه او اختیار سر ایښی ؤ او په رضایت سره یې د هغه احکام منلي ؤ.

د حضرت پیغمبر حکومت هماغه د خدای حکومت دی یعنی یو داسې حکومت چې پر دیني ارزښتونو او اخلاقي اصولو ولاړ و هیڅکله هلته د سیاست معمولي لارې چارې ندي کارول شوي. دا دحکومت یوه خاصه بڼه ده چې د حضرت محمد(ص) تر رحلت وروسته بیا ندی لیدل شوی او نشي جوړیدای. ځکه تر محمد وروسته بل نبی خدای مسلمانانو ته ندی استولی.

# ټولنيزې شبکې محتويات څرنګه اداره کوي



ليکوال: قدرت الله هېوادپال

روس او يوکراين جګړې يو تر ټولو ستره وسيله د خپلو تبليغاتو لپاره د ټولنيزو شبکو کارول دي، له هغې جګړې راديخوا په افغانستان کې هم ډېرې ادارې او اشخاص فيسبوک، ټويټر، انستاګرام، ټيک ټوک، يوټيوب او نور د خپلو نظرونو او عقايدو خپرولو لپاره کاروي، اکثره وختونه کله چې د ټولنيزو شبکو کومه پاڼه يا شخص ډېرې اړيکې او ملاتړې ولري، نو هلته ورته د دې شبکو الګوريتمونو او کاري ډلو پام رااوړي او خپلې اړونده کړنلارې پرې يو طرفه عملي کوي.



په نږدې وختونو کې يوټيوب د ډاکټر اسرار احمد کانال بند کړ، ډاکټر يو له مشهورو اسلامي مبلغينو څخه وو، او دوی ورسره دا دليل وايي چې په ټکساس کې د يهودانو پر يوه عبادت ځای شوي بريدګر د ډاکټر اسرار ويډيو او ليکچرونه اورېدل. ورسره د الجزيرې يوه څېړنې ويلي وو چې د فيسبوک کړنلارې تر ډېره د اسلام ضد وي يا پر هغه پاڼو سترګې پټوي چې د اسلام ضد خپرونې لري، خو پر وړاندې يې د يهوديت او عيسويت خپروونکو پاڼو سره دومره جدي چلند نه کړي.

همداسې په هند کې يوه څېړنه وايي، چې فيسبوک په ځانګړې ډول او نورې ټولنيزې شبکې په عمومي ډول د هند بي جې پي حکومت د حاکمه هندو نظريې چارواکو خوشحالولو لپاره د هندو ټيټې طبقې دليت او نورو محتوا اکثره وختونه سانسور کوي او هغې محتوا ته د نورو په پرتله نسبي ډېر حساسيت ښيي چې د چارواکو د عضب سبب ګرځيدای شي.

ټولنيزو شبکو شرکتونو لپاره د محتوياتو مديريت د توازن ساتلو يوه دوامداره هڅه ده، او هر څومره چې د دې شبکو کاروونکي ډېرېږي همدومره د محتوا مديريت سختيږي. د ټولنيزو شبکو ستر شرکتونه لکه فيسبوک او ټويټر چې د ګټې ستره منبع يې د دوی د کانالونو له لارې د خلکو اعلانونه دي، نه غواړي داسې کړنلارې خپلې کړي چې د خلکو پام ترې واوړي.

هره ورځ په ميليونونه خلک پر ټولنيزو شبکو خپل نظرونه شريکوي. ټول نظرونه سره ورته نه وي. ځينې به يې سپکوونکي، نور آزاروونکي او ځينې يې آن ښايي افراطي ګواښوونکي وي. له دومره بيلابيلو نظرونو سره پر مخ کيدو د دې شبکو استعمالوونکي انديښمن او لار ورکي کوي.

يو لور ته د دې شبکو کاروونکي غواړي چې خپل نظرونه وړاندې کړي، څه چې يې پر زړه وي هغه ووايي او نه غواړي چې د دوی پر سياسي، ټولنيز او اقتصادي نظرونو د ټولنيزو شبکو واکدارو له لارې پرې، سانسور يا فلتر شي، خو بل لور ته غواړي چې خرابه محتوا ونه ويني، دا نه مني چې نور هم دا حق لري چې څه يې پر زړه وي هغه ووايي چې له کبله به يې دوی ته ځينې محتوا نامناسبه، بې احساسه، ځوروونکې يا آن ګواښوونکې ښکاره شي او له شبکو به وغواړي چې ليرې يې کړي.



له دومره کاروونکو سره، ضرور نه ده چې ټول دې د محتوا پر ډول پر یوه خوله وي، د یوې څېړنې له مخې، هغوی چې په څېړنه کې یې برخه اخیستې وه ۸۰٪ یې غوښتل چې د کرکې خپروونکي مواد باید لیرې شي، چې په دې کې نورو ملیتونو، مذهبونو یا جنسونو ته د سپکاوي ټکي هم شامل دي، لدې سره ۷۳٪ یې د شخړو، وژنو او نورو ویډیو لیرې کول غوښتل او ۶۶٪ یې د جنسي محتوا بندول غوښتل.

د ټولنیزې شبکې کانالونه سره لدې چې پر انټرنیټ له هر بل خدمت ډیر کاروونکي لري، د کاروونکو لخوا د جوړې محتوا مدیریت له ځانګړې ننګونې سره مخ دي. سره لدې چې دا شبکې وایي چې د محتوا مدیریت لپاره ځانګړې ډلې لري، خو د دوی دا هڅې نه د کاروونکو او نه د هیوادونو د خدمتونو د تنظیمولو لخوا ستایل کیږي.

ټولنیزې شبکې تجارتي دي، دوی د خپلو کاروونکو له پاملرنې مالي ګټه اخلي، او د دوی وخت پر نورو خرڅوي، د دوی په جوړښت کې داسې ځانګې او خلک شته چې هغوی د دوی تخنیکي خلکو ته د دې شبکو کاروونکو پام ساتلو لپاره بیلابیلې رواني، ساعتیری، لوبو او نورو مشورې ورکوي، چې څرنګه وکولای شي خپل کاروونکي بوخت وساتي.

ښایي ځینې به وغواړي چې دا شبکې د ځینو کاروونکو محتوا لیرې کړي، خو د محتواوو لیرې کول ښایي هغه کاروونکی زړه ماتی او په اوږده کې یې د شبکې پریښودلو ته وهڅوي، چې د شبکې پر کاروباري اړخ منفي اغیزه لرلای شي.

د کاروونکو همدا پام ساتل د دوی د مالي ګټې سبب ګرځي. نو د محتوا مدیریت یا محتوا لیرې کولو یا نه لیرې کولو تر ټولو اساسي شرط مالي اړخ دی، دوی ګوري که چیرې د کومې محتوا د لیرې کیدو له کبله له مالي ستونزو سره مخ کیږي نو پر هغې سترګې پټوي. له همدې کبله هغه کاروونکي، تجارتي شرکتونه، عقیدې، هیوادونه، کاروبارونه او نور چې په اقتصادي توګه غښتلي وي، او د دې شرکتونو مالي ګټه ننګولی شي، د هغوی خوشحالولو لپاره دا شرکتونه ډیره هڅه کړي او نه غواړي چې د هغوی په بد اړخ کې واقع شي.

لدې سره دوهم لوری د محتوا مدیریت د ټکنالوژۍ کیفیت دی. نن سبا د محتوا پریکنده برخه د کمپیوټرونو او مصنوعي ځیرکتیا د وسایلو له لارې اداره کیږي. د ټکنالوژۍ لخوا د محتوا مدیریت دوه اساسي ننګونې لري، یوه یې زموږ په څیر ژبو چې عربي رسم الخط کاروي او پر انټرنیټ دومره بارز حضور نه لري، هلته دا ټکنالوژۍ دومره ګټورې او ورسره بلدې نه وي، دوهم ټکنالوژي تمایل او تعصب نه لري، نو هغه محتوا او کاروبارونه چې دې شرکتونو ته ډیره مالي ګټه راوړي هغه هم ځینې وخت د دې محتوا مدیریت د دې ټکنالوژیو د الګوریتمونو ښکار کیږي، نو هلته بیا دوی د خپلو ګټو ساتلو لپاره بشري قوا کاروي او دوی بیا د ادارو پر ګټه او شخصي تمایلاتو دا محتوا اداره کوي.



د نړۍ له نیم زیات ولس انټرنیټي اړیکه لري او په دوی کې پریکنده اکثریت یې ټولنیزې شبکې کاروي، هغه څه چې تاسې ته بد ښکاري یو بل چا ته ښه دي، ورسره د دې محتوا کاروباري اړخ هم دی، آنلاین داسې ډیر (بد) شته چې د ډیرو د عاید زیرمه ده، نو ځکه هر هغه څه چې تاسې آنلاین وینئ ضرور نه ده چې ستاسې د ښو او بدو پر قضاوت او تله برابر راشي.

همداسې د ټولنیزو شبکو هر څه رښتیا هم نه دي، هر څه پر دې نه ارزي چې پر تاسې اغیزه وکړي او په پای کې تاسې هم کولای شئ له دې وسیلو له خپلو عقایدو، فکرونو او ذوقونو سره سمه ګټه واخلئ، بیلابیلې څیړنې وایي چې ټولنیزې شبکې د خلکو پر روان او فکر اغیزه کړي، او دا اغیزه تر ډیره منفي ده، خو هغوی چې لدې وسیلو ګټور کار اخلي (یعنې لږ یې کاروي او خپل فکر پرې بیانوي)، پر هغوی د دې وسیلو منفي اغیزه کمه او اکثره ورته خوشحاله وي.

د دې وسیلو کاروبار پر شخړو، تضادونو، سپکاویو، جنجالي محتواوو او داسې څه چلیږي چې بشر احساساتي کړي، او منفي احساسات د مثبتو په پرتله ډیر هڅوونکي او بازاري دي، نو ځکه د دې وسیلو د کاروونکي په توګه باید پوه شئ چې (۱) ولې ټولنیزې شبکې کاروئ، څه ترې غواړئ. (۲) پر تاسې څه اغیزه کړي. (۳) هغوی چې تاسې یې تعقیبوئ پر تعقیبولو ارزي. او (۴) د ټولنیزو شبکو دا کاروبارونه ستاسې پر وخت او پاملرنې کاروبار کوي، آیا ستاسې وخت پر دې ارزي چې نور پرې ګټه وکړي.

دعوت رسنیز مرکز
Dawat Media Center
Norway
1988-1367

# از تأسیس اولین پوهنتـون دنیا توسط یک زن مسلمان در قرن ۹ میلادی

## تا تلاش برای محــروم ساختن زن مسلمان از حق تحصیل در قرن ۲۱ میلادی

## "ببین تفاوت ره از کجاست تا به کجا"



ناصر اوریا

آیا میدانید که اولین پوهنتون جهان بشکل معاصر آن ۱۲ قرن قبل از امروز توسط یک زن مسلمان بنیاد نهاده شد؟

زن مسلمان در قرن ۹ میلادی اولین پوهنتون دنیا را تأسیس میکند و ۱۲ قرن بعد حق تحصیل زن از طرف کسانی مورد سؤال قرار میگیرد که خود را پیروان دینی میدانند که اولین کلمهٔ آن (اقرأ یعنی بخوان) است و طلب علم را بر هر مسلمان فرض گردانیده است

القرویین، قدیمی ترین پوهنتون دنیا که از بدو تأسیس تا امروز فعال است و درجه تحصیلی تفویض میکند، در سال ۸۵۹ میلادی توسط یک زن مسلمان بنام فاطمه الفهری بنیانگذاری شد .

خلاف تصور معمول، قدیمی ترین پوهنتون دنیا در اروپا نه بلکه در شهر فز (Fez) مراکش است که توسط یک زن مسلمان، بیش از دو قرن قبل از مشهورترین پوهنتون های جهان تأسیس شده است.

معمولاً وقتی صحبت از قدیمی ترین پوهنتون دنیا میشود، ناخودآگاه در ذهن بیشتر مردم پوهنتون های آکسفورد انگلستان (Oxford)و بولونیا ایتالیا (Bologna) خطور میکند، مگر طبق اسناد یونسکو (UNISCO) و ریکارد جهانی گینس(Guinness) ، القرویین قدیمی ترین موسسه تعلیمی موجود و پا بر جا در جهان است.

این پوهنتون که در سال ۸۵۹ عیسوی توسط فاطمه الفهری که در تونس تولد و با خانواده اش به مراکش مهاجرت نموده بود، در شهر فز کشور مراکش تأسیس شد. القرویین نه تنها قدیمی ترین پوهنتون فعال در جهان است، بلکه اولین مؤسسه ای است که توسط یک زن و آنهم یک زن مسلمان در آن زمان بنیاد نهاده شده است.

گرچه بعضاً ادعا میشود که اولین یونیورستی در هند ساخته شده است ولی اسناد نشان میدهند که یگانه پوهنتونی که درجه تفویض میکرد و به شکل یونیورستی امروزی از روز تأسیس تا حال فعال است، همانا پوهنتون القرویین است .

تعداد زیادی به این باور اند که کتابخانه آن نیز از اولین ها در جهان است.

فاطمه الفهری و خواهرش مریم بعد از فوت پدر و شوهر، سرمایه ای را که به ارث برده بودند در امور خیریه منجمله اعمار اولین مؤسسهٔ تعلیمی، کتابخانه و مسجد مربوط به آن مصرف کردند، سرمایه گزاری نه تنها برای نسل ها و عصر ها بلکه خیر جاریه برای بشریت. در کتابخانه پوهنتون القرویین نادرترین و منحصر به فردترین نُسَخ جهان نگهداری میشود. این کتابخانهٔ باستانی که ارزشمندترین آثار فرهنگی بشری را در خود دارد، دارای لابراتواری است که آثار ارزشمند آنرا اپدیت و دیجیتلی ساخته تا نه تنها از گزند حوادث مصون باشد بلکه به سهولت در دسترس همگان قرار گیرد.




این مؤسسه تحصیلی سیستم تدریس و اعطا و تفویض درجات مختلف علمی در رشته های متعدد تحصیلی مانند مطالعات علوم دینی، صرف، نحو، بدیع و بیان یا هنر مباحثه و آئین سخنرانی را معرفی کرد.

اگر چه پوهنتون در ابتدا روی تعلیمات دینی متمرکز بود، ولی به زودی ساحه تعلیمی آن کسب وسعت نموده و به تدریس منطق، ریاضیات، نجوم، طبابت و رشته های متعدد دیگر توسعه یافت.

به دلیل طیف گسترده موضوعات تدریسی و کیفیت عالی نصاب تعلیمی که ارائه میگردید، دانشمندان و محصلین از سراسر جهان اسلام از این مؤسسه تعلیمی دیدن نموده و در آن ثبت نام میکردند. شهرت و محبوبیت آن چنان بالا

گرفت که پوهنتون القرویین مجبور شد تا یک سیستم سختگیرانه برای انتخاب و جذب شاگردان را اتخاذ نماید. این سیستم انتخاب، محصلین را ملزم میکرد تا قران را حفظ داشته و دانش آفاقی خوبی از عربی و علوم عمومی داشته باشند. سلاطین عصر با اعطای کمک های مالی بلاعوض، تحف و هدایا بخصوص کتاب ها و نسخه های خطی از پوهنتون حمایت میکردند. این امر باعث شد که پوهنتون القرویین چندین کتابخانه در ساختمان های اصلی و فرعی خود داشته باشد که کتب و آثار تأثیرگذار بی شمار آنزمان را در خود جای داده است.

کتابخانه تاریخی پوهنتون القرویین تا امروز به روی عموم باز است و دیپلوم اصلی "الفهری" را که در بدو تأسیس پوهنتون در چوب حکاکی شده بود، نشان میدهند.

این کتابخانه در حال حاضر میزبان بیشتر از ۴۰۰ نسخهٔ خطی نهایت ارزشمند تاریخی در زمینه های مختلف منجمله نسخ خطی قران عظیم الشأن است. برخی از این متون گرانبها شامل مهمترین اثر قرن چهاردهم میلادی "المقدمه" و نسخهٔ اصلی "العبر"، از آثار مؤرخ شهیر و جامعه شناس پیشگام جهان، ابن خلدون (۱۴۰۶-۱۳۳۲، مؤرخ و جامعه شناسی که بنام بنیانگذار علم جامعه شناسی یاد میشود)، است.

آثار معروف دیگر این کتابخانه"الموطأ" یا "موطأ امام مالک" است که از قدیمی ترین مجموعهٔ متون حقوقی میباشد که توسط امام مالک بن انس (۹۳ - ۱۷۹ه ق مدینه) جمع آوری گردیده است. این مجموعه هم احادیث، هم فقه و هم حقوق اسلامی را در خود دارد. همانطور که در مؤسسات تحصیلات عالی معاصر رایج است، پوهنتون القرویین غرض ترویج تبادل معلومات و توسعه علوم، بصورت منظم مناظره ها و سمپوزیم ها را دایر میکرد. این پوهنتون بر بنیاد مفکورهٔ تعلیمات عالی به مفهوم معاصر آن بنا یافته است.

مفکورهٔ فاطمه الفهری ایجاد یک فضای اجتماعی بود که در آن امکان تبادل افکار متعالی برای تعلیم و تَعَلُم فراهم گردد. بیمورد نخواهد بود اگر بگوئیم که مفکوره ها و بینش فاطمه الفهری در مسیر دادن بسیاری پوهنتون های اروپا تأثیرگذار بوده است. مفکورهٔ ساختار یک بنیاد تحصیلی و مسلکی که قبل از آن دیده و شنیده نشده بود - در سراسر قارهٔ اروپا برای قرن های آینده منعکس شد. کشورهای اروپایی با مشاهدهٔ پتانسیل عظیمی که در این سیستم تعلیمی وجود داشت، به سرعت مؤسسات علمی خود را بر اساس این مفکوره بناد نهادند. از جملهٔ برجسته ترین آن ها میتوان از پوهنتون بولونیا (Bologna)که در سال ۱۰۸۸ میلادی در ایتالیا، و پوهنتون کسفورد (Oxford) که در سال ۱۰۹۶ میلادی در بریتانیا تأسیس شد، نام برد. قابل یادآوری است که هر دو پوهنتون بیشتر از دو قرن بعد از پوهنتون القرویین پا به عرصهٔ وجود گذاشتند.

پوهنتون القرویین در طول تاریخ موجودیت خویش مکان دانشمندانی بوده است که جایگاه علمی شان تا امروز در جهان محفوظ است، مانند محمد الادریسی (کارتوگرافر یا نقشه نگار، جغرافیه دان و مصرشناس قرن دوازدهم میلادی - سازندهٔ نقشهٔ جهان بنام Tabula Rogeriana)، که نقشه های او به اکتشافات اروپا در دوره رنسانس کمک کرد .

علی الرغم اینکه القرویین محل تجمع محصلین و دانشمندان معارف اسلامی بود، دانشمندان ادیان دیگر را نیز جذب میکرد. یکی از علمای مسیحی که از پوهنتون القرویین بازدید کرد، پاپ سیلوستر دوم (۹۴۶ - ۱۰۰۳) بود که علاقه زیاد به ریاضیات و نجوم داشت.

معهذا، پوهنتون القرویین در سال ۱۹۶۳ میلادی به سیستم پوهنتونی معاصر مراکش اضافه شد. خلاف تصورات نادرست رایج، زنان و مردان هر دو می توانستند و میتوانند در القرویین تحصیل نمایند. در سال ۱۹۶۵ میلادی، این مؤسسه تحصیلی به جای نام القرویین، رسماً بنام پوهنتون القرویین مسمی گردید .

طوریکه به همگان معلوم است اولین آیه ای که از جانب خداوند نازل شده کلمه ای (اقرأ) یعنی بخوان است که امر به آموزش و کسب دانش است و طبق فرمودهٔ پیامبر گرامی "طلب علم (کسب علم) بر هر مسلمان فرض است" «طَلَبُ الْعِلْمِ فَرِيضَةٌ عَلَى كُلِّ مُسْلِمٍ وَ مُسْلِمَة»، علم بیاموزید ولو در چین هم باشد" «اطْلُبُوا الْعِلْمَ وَ لَوْ كانَ بِالصِّين.»

با توجه به میزان بیسوادی و کم ارزش جلوه دادن معارف در بسی کشورهای اسلامی، مخصوصاً کشور خود ما، این عقبگرد و عدم پیروی از اوامر و تعالیم دین برای هر صاحب خردی به آسانی قابل درک است.

از وضع موجود میتوان تخمین کرد که آنهایی که خود را مؤمن و معتقد میدانند تا چه حد به آموزه های دینی پشت پا زده و از اصول دین فاصله دارند .

امید همه باهم در پی اصلاح فوری این نقیصهٔ عظیم دست به کار شده و در رفع آن سعی بلیغ به خرچ دهیم.



# د نړۍ لومړنۍ تعلیمي موسسه

ناصر اوریا

د نړۍ ډیرې لرغونی کلتوری پانګې د مراکش د فز (Fez) ښار کی دی. د نړۍ لومړنی تعلیمی موسسه په اوسنی بڼه، د لومړۍ ځل لپاره د فاطمه الفهری لخوا، د القرویین پوهنتون په نامه، جوړ شوی دی.

ډیری داسی فکر کوی چې د نړی تر ټولو لرغونی کتابتون هم په همدی پوهنتون پوری اړه لری .

د القرویین پوهنتون د مراکش په فز (Fez) ښار کې په ۸۵۹ میلادی کال (له دولسو پیړیو څخه مخکی) د فاطمه الفهری لخوا جوړ شو چې ځنګ ته یی جومات او کتابتون هم درلودل .

دا پوهنتون د نړۍ تر ټولو ډیر لرغونی او ارزښتناکه لاسی نسخی او کتابونه لری چې په خورا ښه توګه یی ساتنه کیږی.

نن ورځ دا د انسانانو د کلتوری ارزښتونو ډک او نایابه اسناد په نني تکنالوژۍ او د نن ورځی له اړتیاوو سره برابر اپډیټ او ډیجیټلی کیږی. او په دی ډول هڅی روانی دي چې دا د ټول متونونه او آثار چې د بشری ټولنو او کلتوری مینوالو سره د آسانه ډول لاسرسی ولری.

د مثال په توګه د القرویین د پوهنتون کتابتون اوس د لرغونو او زړو متنونو بیارغولو، ساتنې او ډیجیټل کولو لپاره خاص او مډرن لابراتوار لري.




یو ایټالوی عالم وایي چې زه دلته د فز ښار کی د ځینی پوهنتونونو سره د علمی او ساینسی همکاری له امله یم څو وکولای شو چې د معلوماتو علومو لید څخه دا ستونزې لری کړو څو د نړی خلک وکولای شی چې دې اسنادو ته چې د نړی انسانی کلتوري میراثونو ته په آسانی او آزاده توګه لاسرسی ولری.

په آرشیفونو کې ترټولو قیمتي کتابونو کې یو هم د نهم میلادی پیړی قران دی چې د اوښانو په پوستکي په کوفی سکریپټ کې لیکل شوی او بل هم د څورلسمی میلادی پیړی د شمالي افریقا او د نړی د ستر او نامتو مورخ ابن خلدون "مقدمه" کتاب دی.

# د پوښتنې هنر

یو چا خپل ملګري ته وویل: که د دعا کولو په وخت سګرټ ولګوم پروا نه کوي؟

هغه ورته وویل زه به څه ووایم دا پوښتنه له یو عالم څخه وکړه.

هغه عالم ته ورغی او ورته یې وویل: که د دعا کولو پر وخت سګرت ولګوم پروا نه کوي؟

عالم ځواب ورکړ: پام چې دا کار ونه کړې چې بې ادبي ده.

ده چې خپل ملګری د عالم له نظره خبر کړ، ملګري یې ورته وویل: خیر دا خبره سر چپه هم کیدای شي.

ورشه له عالمه پوښته وکړه، چې د سګرت څکولو پر وخت مې که زړه ته دعا وشي، دعا کولای شم؟

دی یو ځل بیا عالم ته ورغی او همدا پوښتنه یې وکړه. عالم ځواب ورکړ هېڅ پروا نه کوي دعا پر هر حالت کې ښه ده.




If there were ever a time to join us, it is now. Every contribution, however big or small, powers our journalism and sustains our future. Support the Dawat Media Center from as little as $/€10 – it only takes a minute. If you can, please consider supporting us with a regular amount each month. Thank you

# د تکفير او هجرت اسلامي ګوند مشر او بنسټګر شکري مصطفی

قاضي باران

د مصر د حج او اوقافو وزير او لوی مفسر او عالم شيخ محمد الذهبي يې چې کله اختطاف کړ او هغه باندې يې د کفر او ردت فتوا صادره کړه بيا يې په بې رحمۍ سره تړلی وواژه، چې ونيول شو او د محاکمې وروسته اعدام شو.

د هغه تنظيمي ارشادات خپلو پلويانو ته داسې وو:

1/ پرته زما د تکفير او هجرت له ډلې او د تنظيم پلويانو څخه بشپړ وګړي کافران دي، زموږ له تنظيم څخه که هر غړی ووتلو هغه مرتد کافر باغي دی او ورسره جنګ جګړه او وژنه يې زموږ لپاره اولويت دی.

2/ سلف صالح او صحابه کرامو د کورونو او نورو ودانيو او د هيوادونو ابادۍ لپاره هېڅکله زدکړه نه ده کړې، دوی فقط او فقط ديني زدکړه کوله د اخرت لپاره نو ځکه دين بايده د دنيا لپاره هېڅکله کار نه سي او دغه کړنه د کافرانو لويه نښه نښانه ده.



3/ پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي چې (نحن أمة أمية لانكتب ولا نحسب) موږ له سواد څخه خالي امت يو، نه ليکل کړو نه حساب.

د حديث مطابق بايده موږ هم له تعليم او زدکړو څخه لاس واخلو او بيسواده امت اوسو د پيغمبر امت په څېر، موږ فقط او فقط بايده ديني زدکړه وکړو او پرته له ديني تعليم څخه هر دنيايي زدکړه ضلال مبين، حرام او ناروا او د يهودو دسيسه او پلان دی چې پر مسلمانانو کې يې رايج کړای ترڅو موږ له خپل بيسواده امت څخه جلا او په دنيا بوخت کړي،د سواد اموزي مفکوره د يهودو شيطاني دسيسه ده ترڅو په کفري علومو مسلمانان خپل ژوند او وخت ضايع کړي.

4/ هر هغه څوک چې ادعا کوي چې دين او دنيا دواړه ترسره کولای شي او په يو وخت مهال هم د دنيا هم د خدای بندګي کولای سي هغه دې لمړی پخپل زان ګواهي د بې شرمۍ او بې حيايۍ او بد سترګۍ ووهي او بيا دې وکړي هر بد چې کوي، همدوی ته خدای پاک جل جلاله فرمايي په قران عظيم شان کې (أذهبتم طيباتكم في حياتكم الدنيا واستمتعتم بها فاليوم تجزون عذاب الهون بما كنتم تستكبرون في الأرض بغير الحق) صدق الله العظيم.

ښه او هوسا ارام ژوند مو په دنيا کې تير کړو او خوندونه مو هغه مهال وڅکل او نن د قيامت په ورځ ستاسو لپاره سرسخته سزا او عذابونه چمتو دي، له حق لرې په دنيا کې دا ستاسو د کبر او غرور سزا ده.

5/ پوهنتونونو او مکتبونه او ښوونځي د طاغوت مرکزونه دي، د ښځو ورتګ دغه طاغوتي بنسټو ته کفر دی او له دغسې ټولنو څخه مهاجرت فرض عين دی.

هر هغه څوک چې په دغه تعليمي بنسټو کې دنده اجرا کوي مرتدين، منافقين او د کافرانو په قدم او پلان روان دي او کفري مناهج او مضامينو ته خدمت کوي.

6/ يواځينی تعليمي نصاب چې د پيغمبر صلی الله عليه وسلم او اسلام سره سمون خوري د تکفير او هجرت تنظيم تعليمي نصاب دی د همدغه تنظيم په ديني مدرسو کې، وروسته له پيغمبر صلی الله عليه وسلم څخه يواځې زموږ ديني مدارس په شريعت برابر دي او نور ټول تعليمي پروګرامونه کفر او الحاد دی او اسلام سره په هېڅ ډول او صورت ربط يا تړون نه لري.

7/ د تنظيم هر غړی بايده د طب يا انجينري يا د علومو کسب کار څخه په جدي توګه ډډه وکړي ځکه د دغه کسبونو رزق مطلق حرام دی، هر غړی بايده خپل رزق د بازار او سودا للاري ترلاسه کړي هغه که د سړکونو په غاړو سپک او ارزان تجارت هم وي، او څوک چې دغه مسلکونو کې زدکړه يا دنده لري هغه بايده سم للاسه ورڅخه لاس واخلي.

# د تکفیر او ویښتیا تر منځ شعوري واټن



عبدالغفور لېوال

[]سل کاله پخوا انګریزي څارګره (اکتشافي) الوتکه، چې ډېره لوړه نه الوتله، د افغانستان پر جنوب تېره شوه، ځوانکي شپون په غره کې ولیدله، سیلولی کلي ته راغی او خلکو ته یې کیسه تېره کړه...

سپین ږیرو توبې ایستلې او چې د کلي اخوند خبر شو، پر هلک یې د سنګسار حکم وکړ، ویل: کفر غړوي. مُشرک دی. بنده به څه وي، چې وسپنه په هوا کړي؟

په سبا یې بوره مور قبر ته ناسته وه، ژړل یې، چې زما زوی خو لیونی و، لیونی خو له شرعي ماپ (معاف) وي. ولې مو وواژه؟...

[]د انګرېز په اکسفورډ ښار کې هغه کوڅه اوس هم د ګرځندویو کتنې ته هرکلی وایي، چې د نړۍ لومړنی فوټو شاپ یې بریالی ترسره کړی و. د شاه مېرمنې ثریا سر یې د یوې بربنډې انګریزې په بدن سریښ او بیا چاپ کړی و. د سقاوي اړدوړ په درشل کې دغه عکس په زرګونو پاڼې خپور شو او امان الله خان پرې تکفیر شو. پاچا اخوندانو او پیرانو ته جرګه ولېږله، چې څه غواړئ؟ هغوی د مکتبونو د تړلو او نورو شرطونو په لړ کې یو شرط دا کېښود چې پاچا به شاه مېرمن ثریا طلاقوي.

[]د ګوډ ملا په اړه اوازه ګډه شوه، چې ستانه او رسنده دی، چې هرځای کیني، د ناستې پرځای یې شین چمن رازرغون شي... خلکو یې په چیغه پسې سپلاوې او سوټې راواخیستل، چې هلئ سرکار کافر دی...

اوس

هو، اوس

یعنې شاو خوا سل کاله روسته، خامخا د هغو کلیوالو لمسي په الوتکو کې سفرونه کوي، چې زلمي شپون یې سنګسار کړی و.

نن د هغو خلکو په جیبونو کې تر ټولو پرمختللې کامرې او د فوټو شاپ وسایل پراته دي، چې نیکونو یې د شاه مېرمن طلاق غوښت.

او خامخا ګنو هغو لمسیو هم ګوډ ملا شاتګپال وګاڼه چې نیکونو یې د خدای ولي ګڼلی و.

بغدادي پیر اوس لولو او پرې پوهیږو، هغه وخت چې بغدادی پیر ماموریت ترسره کاوه، زموږ خلک یې د تکفیر د کرغېړنې دسیسې ښکار ول.

کیسه چېرته ده؟

سل کاله مخکې موږ د تکفیر قربانیان وو، ایله نن پرې پوهیږو، چې کیسه څه وه؟

سل کاله پخوانی تکفیر (الف) وګڼئ او اوسنۍ هوښیاري او ویښتیا مو (ب) وګڼئ.

زموږ ملي ربړه، مصیبت او غمیزه دا ده، چې د (الف) او (ب) ترمنځ واټن سل کاله دی.

هغه څه چې نن د دین په نامه کیږي او هغسې چې نن وطن د تکفیر په وسله تباه کیږي، همدا زموږ لمسیان به سل کاله روسته پر موږ ټولو غوسه وي او خاندي به...

غوښتنه دا ده، چې ایا دا سل کلنه فاصله رالنډولای نه شو؟

همدا نن د تکفیر او له دین څخه د سیاسي ابزاري ګټې په راز پوهېدلای نه شو؟

ټولنه دغه سل کلن واټن یوې ورځې ته رالنډولای نه شي؟

## همدا نن ویښېدلای نه شو؟ چې پوه شو، د انګریز میراث خور استخبارات راباندې څه څه کوي؟

یوه بل واټن هم شته، چې منفي واټن یې بولي. یعنې تر دې وړاندې چې (الف) پېښ شي، موږ وخته په (ب) سنبال یو. یعنې دومره ویښ شوي یو، چې که سبا مو هم څوک د دین په ناسم تفسیر و تعبیر تباه کول غواړي یا مو سبا د اولادونو مرۍ د تکفیر په پڅه چاړه پرې کوي، نو موږ یې باید نن مخه ونیسو.

پېغلو او زلمیو!

ولیکئ، هر یو مو یو یو مخ په دې باندې لیکنه وکړئ، مشاجره وکړئ، بحث و استدلال وکړئ، شور جوړ کړئ، چې سل کلن واټن څنګه یوې ورځې او بیا منفي واټن ته راکوشنی کړو؟

## شور جوړ کړئ، چې څنګه د تکفیر تر کړکېچ مخکې موږ شعوري ویښتیا ته ځان ورسوو او د ګاونډ د استخباراتي مدرسو خونړۍ چړې، ناولې تورې او زهرجنې نیزې څنګه د تاریخ په ډېران کې خښولای شو؟

# په اوکراین کې د هژمونیستي موخو او خپلواکۍ جګړه



لیکنه، عبدالوحید وحید

انسان وژنه هر ځای د هر چا لخوا په هر ډول شرایطو کې خواشینوونکی کړنه ده. په اوسني پیچلي نړۍ په شکاره ډول د سولې خپلواکي، بشري حقونو دیموکراسي او عدالت تر عنوانونو لاندې د پردې ترشا د اقتصادي، سیاسي او هژمونیکي موخو درلودونکي ځواکمن هېوادونه د جګړو نوښتګر وي. د ځمکې کُره د پورته یادو شویو موخو د ترلاسه کولو لپاره د استخباراتي لوبو ډګر ده. کمزوري او په جنجالونو کې لتاړ ملتونه پکې د شطرنج د مهرو په شان لوبول کیږي.

د بشري حقونو د خوندیتوب بنسټونه یوازې ننداره غولونه او دوکه ده. که د انساني وجود پیل ته هم لاړ شو، نو پوهیږو چې لاهم د هابیل او د قابیل د پلویانو ترمنځ هغه کړکیچ دوام لري چې قابیل پیل کړي وه. اوس هم د قابیل پلویان حسود او ځواکمن دي، د هابیل د ملګرو ژوند ته ګواښ جوړوي. دا لوبه نه ختمیږي. له ادم نه تر دې دمه له قابیله تر هابیله روانه ده او ترقیامته به دوام مومي.

دا ځانګړي بحث ته اړتیا لري چې له ناتو او اروپایي ټولنې سره د یو ځای کېدو لپاره د اوکراین د حکومت اوږد مهال هلې ځلې واقعاً د دغه هېواد له ملي ګټو سره سمون خوري او که د کومې پیاوړي استخباراتي شبکې لخوا داسې سناریو جوړه شوه چې اوکراین باید د ملي ګټو د خوندیتوب په موخه د روسیې ضد دریځ نیولی وای. پوښتنه دا ده چې ناتو او اروپایي ټولنې د اوکراین له تشویق کولو سره سره ولې دغه هېواد ته غړیتوب ورنکړ؟

ګازپروم د روسیې د انرژي وزارت او ددغه هیواد د ستراتیژیکو موخو د تحقق بنسټ ګڼل کېږي. د روسیې په بهرنی تګلاره کې هم ارزښتمن رول لري. ددغه شرکت لخوا د نهه نیم ملیارده یورو په لګښت د بالتیک له بحیرې لاندې د نارد ستریم (۲) په نوم د انرژي د انتقال پروژه چې المان ته نیغ په نیغه روسی ګاز رسوي او اوکراین ته پکې د ترانزیت د اسانتیا برابرولو اړتیا نه پاتې کېږي، داسې پروژه ده چې په روسي ګازو باندې د اروپا تکیه زیاتوي او د انرژي په مارکیټ باندې د روسیې برلاسی یقیني کوي.

اوکراین ته ددغه نللیکې د ترانزیت فیس له درکه نه یوازې په کلنې ډول درې ملیارده دالر ګټه رسیده، بلکې د خپلواکې ساتلو لپاره شکاره ضمانت هم وو، خو بایډن او انګیلا مرکل په یوه ناسته کې د اوکراین د استازي له حضور پرته ددغې پروژې حمایت وکړ. بایډن ظاهراً دغه




هوکړه المان ته د ټرمپ د غلطو تګلارو له امله د رسیدلي زیان تلافي کول وبلل.




ښکاره خبره ده چې د نارت ستریم (۲) روسي پروژې په هکله د امریکا او المان هوکړه د پوتین هغو خیالونو ته روح ورکړ چې ویل به یې؛ "اوکراین کله هم خپلواک هېواد نه وو او نه به کله هم د خپلواک هېواد په توګه پاتې شي" یا هم "یوه داسې اروپا چې په روسي انرژي وچلېږي". د پوتین دغه خبرې د اوکراین د له منځه تللو معنا درلوده.

د امریکا لخوا روسیې ته په اوکراین باندې د یرغل په تړاو د شین څراغ ورکولو نورې نښې هم شتون لري. په چیچنیا، جورجیا، کریمیا او سوریه کې د پوتین د تګلارو بریا او له افغانستان څخه د امریکا تېښتې، روسیې ته د خپل پخواني برم ترلاسه کولو لپاره نفسیاتي ځواک او انرژي ورکړه چې په اوکراین باندې یرغل وکړي. د روسیې له پولو څخه بهر د پوتین د مخالفینو وژنو، زهري توکو کارولو په تړاو د امریکا سوړ غبرګون هم په اوکراین باندې د یرغل لپاره په غیرمستقیم ډول د پوتین د تشویق لامل ګڼلای شو.

اروپا د روسیې لخوا په اوکراین باندې له برید وروسته خپل وجود ته د پیښو ګواښونو د مخنیوي لپاره د خپل نظامي ځواک پیاوړي کول په خپلو لومړیتوبونو کې ونیوه. په سملاسي ګامونو پورته کولو یې پیل وکړ او طبیعي خبره ده چې اروپا د خپلو ځواکونو د سمبالولو لپاره امریکایي وسلو ته اړتیا لري. د ځینو اروپایي هېوادونو لخوا له امریکا څخه د پرمختللو وسلو د پیرلو خبرې روانې دي. د جګړې له پیل څخه د امریکا د وسلو جوړوونکو سترو شرکتونو د تولیداتو بیې په مسلسل ډول په لوړېدو دي.

اوکراین تلفات ورکړل، ټولنه، بنسټونه او اقتصاد یې وپاشل شو، خو د خپلواکۍ جګړه پرمخ وړي. خپلواکي ورته ارزښت لري او د اوکراین خلک په دغه ارزښت باندې پوهېږي. امریکا به د خپلو پرمختللو وسلو د پلور لپاره ښه پراخ مارکېټ پیدا کړي او دغه هېواد ته به د روسیې لخوا د ممکنه ګواښ کچه ښکته یوسي. په اوږد مهاله توګه به امریکا له بحران څخه ګټه پورته کړي.

په سویډن کې د یوه انستیټیوټ د یوې نړیوالې څېړنې په ترڅ کې په نړۍ کې د وسلو جوړولو تر ټولو ستر پنځه مخکښ شرکتونه په ګوته کوي چې ټول امریکایي دي او په ۲۰ ۲۰ زیږدیز کال کې یوازې د امریکا نظامي لګښت د ټولې نړۍ د نظامي لګښتونو ۳۹% برخه درلوده.

په غرب کې اوس دا تاثر عام دی چې په اوکراین کې روسیې ته هر ډول دیپلوماتیک امتیاز ورکول او یا هم جنګي بریا ته رسیدل به د حکومت جوړونې ملت جوړونې دیموکراسي او بشري حقونو د خوندیتوب ټولې هیلې له منځه یوسي. په اوکراین کې یو لاسپوڅي حکومت به د اروپا د استحکام د له منځه وړلو لپاره هروخت د خطر زنګ وي او د پوتین د نوي روسیې(Novorossiya) ذهنیت به پیاوړی کړي. د دغه ډول سناریو رامنځته کیدل لویدیځ ته د منلو نه دی.

د اوکراین جګړه داسې مهندسي او وپیچل شوه چې روسیې یې په تړاو فکر هم نه وو کړی. غرب د اوکراینیانو مقاومت ته د وسلو او پیسو په ورکولو او په روسیه باندې د سختو بندیزونو له امله انرژي ورکړه.

پوتین باید اوس پوه شوی وي چې خپلو هژمونیکي موخو ته د رسیدو په پلان کې سهوه شوی دی. اقتصاد یې دومره سخته ضربه وخوړه چې په نږدې راتلونکې کې یې د بیا رغونې نښې نه لیدل کېږي. بهرنې پانګوال ورڅخه د تېښتې په لټه کې دي، خپل ګاونډیان او اروپا به وربا ندې اعتماد نکوي. لا نور ځاني او مالي زیانونه به هم ویني. د سلګونه ملیاردو ډالرو او یورو پولي زیرمې یې په امریکا او اروپا کې کنګل شوې. د غرب اغیزمن او ځپونکي اقتصادي بندیزونه به یې په اقتصادي او سیاسي توګه وځپي.

# جاپانی لیکوال موراکامي:
# کتابونه مې ولې د خلکو په زړونو کې ځای لري؟




**لیکوال: الیور بکمن**

**ژباړن: عزت الله شینواری**

هاروکي موراکامي اویا کلن دی. هره ورځ سهار څلور بجې له خوبه راویښېږي، پنځه شپږ ساعته لیکل کوي او وروسته بیا نهه کیلومتره منډه وهي. یو ناول یې د خپرېدو په لومړي کال کې ۳.۵ میلیونه ټوکه وپلورل شو. خپله هم نه پوهېږي چې ولې خلک دومره مینه ورسره لري. خو له بل پلوه بیا وایي دا چې دومره د خلکو په زړونو کې ځای لري په کیسو کې یې عجیبه پېښې انځور کړې دي: دا چې ماهیان له آسمانه اورېږي او پیشوګان په سړکونو کې ورکېږي. دی وایي:« په ناول کې باید هغه دغه ډېر ونکړئ، زه د خپل ځان په تیاره ناخوداګاه کې مزل کوم او په ډک لاس له هغه ځایه بېرته راګرځم. پایله یې زما لیکلي ناولونه کېږي.»

په منتهن کې زما له لېدنې یوه ورځ وړاندې، هاروکي موراکامي د تل په څېر له ماسپښینه وړاندې سنټرال پارک ته د منډې وهلو لپاره ځي یوه ښځه یې ودروي او ورته وایي:« بخښنه غواړم آیا تاسو هماغه مشهور جاپانی لیکوال نه یاست؟» دا چې د پوښتنې کولو طریقه یې یو څه عجیبه غونډې وه خو بیا هم موراکامي د





تل په څېر په آرامې حوصلې سره د هغې ځواب ورکوي:« هغې ته مې وویل نه، زه یواځې یو لیکوال یم، په هر صورت له لیدلو مو خوشحاله شوم. وروسته مو یو بل ته لاس ورکړ. کله چې خلک په دې ډول زما څنګ ته راځي، عجیب احساس کووم، ځکه چې زه یو عادي انسان یم، په حقیقت کې نه پوهېږم، ولې د خلکو خوښېږي چې ما ویني.»

دا به زموږ تېروتنه وي چې د ده دا ډول کړه وړه به د ده تواضع او یا خپل نه شهرت غوښتل تعبیر کړو: یواځې دومره ویلای شو چې ٦٩ کلن هاروکي موراکامي نه له خپله شهرته خوښ دی او نه‌ترې بېزاره. د ده له ناخوداګاه چې دا سورئالیستی کیسې را پورته کېږي دا هغه واقعت دی چې میلیونونه انسانان څه په جاپاني او څه په نورو ژبو د ده کتابونه په ډېره مینه لولي. د ده د کیسو کرکټرونه د بیروني نړۍ ننداره کوي او زیات یې دا ځانګړنې لري: آرام انسان، له ټولنې ګوښه، او زیات بې نومه، د دېرش کلنۍ په منځنۍ‌کچه چې یوه غیر عادی ټېلیفوني اړیکه یا د یوې پیشو د پیدا کېدو پلټنه هغه یوې موازي نړۍ ته کشکوي او هغه د دې پر ځای چې په تشویش شي، په شور او شوق راځي. دا نړۍ له هغو سپیو ډکه ده چې چاودنه کوي، هغه سړي چې مېږو ته ورته جامې آغوندي، له رازه ډکو انجونو او له هغو خلکو چې هېڅ څېره یې نه وي معلومه.



موراکامي په دې عقیده دی چې دا ډول ادبي قاعده د سیاسي کشمکش پر وخت یو ځانګړې جذابیت لري. هغه په داسې حال کې په یو ادبي کنفرانس کې ناست دی او خپلې اوبه غړپ، غړپ څښي بیا دا ډول وضاحت ورکوي؛ « په ۱۹۹۰ لسیزه کې چې کله په روسیه کې شوروي نظام د بدلون په حال کې وو، په وخت کې ما د خلکو په زړونو کې ډېر ځای درلود ځکه چې له خلکو لاره ورکوه، او له هغو خلکو چې لاره ورکوه زما کتابونه یې ډېر خوښېدل». « کله چې په آلمان کې د برلین دیوال ونړېد په هغه وخت کې هم له خلکو لاره ورکوه هغوی هم زما کتابونو سره ډېره مینه درلوده.» که چېرته دا نظریه سمه وي، دا چې نړۍ اوس له کوم کشمکش سره مخامخ ده، د ده کتابونه به د خلکو له تاوده هرکلي سره مخامخ وي.

دا چې د موراکامي کتابونه دسیاسي تشویشونو پر وخت د خلکو په زړونو کې ځای پیدا کوي دا د درک وړ ده: د هغه کارونه په خلکو ژور تاثیر کوي او کله یې زړه ته تسلي ورکوي، کتابونه یې انسان ته د آرامښت لپاره پټنځای پیدا کوي تر څو وکولای شي چې یو څه شېبه له جنجالونو له ډکې نړۍ وتښتي. موراکامي په‌خپله یوه مرکه کې وایي چې د بیس‌بال لوبه مې خوښېږي« ځکه چې ستړې کوونکې ده»

موراکامي په ۱۹۴۹م کې له هغې دورې وروسته چې کله دویم نړیوال جنګ پای ته ورسېد او جاپان د آمریکا لاس ته ولوېد په هغه وخت کې دی په کیوتو کې نړۍ ته راغی. کله چې یې په توکیو کې خپله رسمي دنده پرېښوده مور او پلار یې له هغه ناهیلي شول. څو کلونه وروسته د بیس‌بال په یوه سټوډیوم کې ناست وو او د امریکایي لوبغاړي ډیوهیلټون له ضربې وروسته یې توپ په هوا کې ننداره کوه، ناڅاپه یې ذهن ته راغلل چې کولای شي یو ناول ولیکي دا چې بلاخره هڅه یې دا شوه چې په ۱۹۷۹ میلادي کې د «هوا غږ ته غوږ شه» ناول ولیکه. له یو څه ځنډ وروسته د یوې اونۍ په پای کې په داسې حال کې یوې ټیلیفوني اړیکې  له خوبه راویښ کړ چې ده ته یې خبر ورکوه ناول یې ګونزو مجلې د جایزې په لیست کې لار پیدا کړې ده. ټیلیفوني اړیکه یې پرېکړه او له مېرمنې سره یې یوځای قدم وهلو ته له کوره بیرون ولاړ. یوه زخمي کوتره یې پیدا او هغه یې د پولیسو تمځای ته یوړه. هغه کلونه وروسته په دې اړه داسې ولیکل:« هماغه یکشنبه هوا روښانه او پاکه وه او ونې، ودانۍ، او دوکانونه د پسرلي په لمر کې ډېر ښایسته ځلېدل». «په هماغه ځای کې مې ذهن دې فکر ونیوه؛ زه به دا جایزه ګټم او تقریباً یو بریالی ناول‌لیکونکی به کېږم. له زړورتیا ډک ګومان وو خو په هاغه شېبه کې مطمئین وم چې دا هر څه به کېږي».

د موراکامي په کتابونو کې هېڅ ډول داسې څه نه تر سترګو کېږي چې دی دې جاپانی وي، ډېر ورتەوالی آمریکایي فرهنګ

ته لري په همدې خاطر کارونه يې ډېرى آمريکايي تر سترګو کېږي. خو په دې وروستيو کلونو کې دی يو له نوبل جايزه ګټونکي نوماندانو په نوملړ کې يادېږي، په همدې خاطر ده غوښتنه کړې ده چې نوم يې د نوبل جايزې له ګټوونکو له نوملړ څخه وباسي او ويلي يې دي دا غوره ګڼي چې پر ليکلو تمرکز وکړي. « دا چې موږ له جنګ وروسته نړۍ ته راغلي يو، په آمريکايي فرهنګ کې را لوی شوي يو: ما تل آمريکايي پاپ او جاز سندرې آورېدې، او آمريکايي سريالونه مې ليدل؛ دا هر څه موږ ته يوې بلې متفاوتې نړۍ ته دريڅه وه. خو په هر صورت يو څه وخت وروسته مې خپل سبک پيدا کړ، چې نه جاپانی وو او نه آمريکايي، خپل سبک مې وو».

دا چې نقدکوونکي هر ډول فکر کوي، د هغه تجارتي بريا ورځ تربلې پرمختګ وکړ هغه په ۱۹۸۷ د « نارويجي ځنګل» په نوم کتاب د بريا تر څوکې ورساوه. په‌دې ناول کې له غمه ډکه د دوه ځوانو مينانو کيسه ده چې ۳.۵ میلیونه نسخې يو کال وروسته له هغې چې خپور شو وپلورل شو. کيسه په رينښتوني ډول ليکل شوي وه، دا هغه سبک و چې موراکامي هيڅکله بېرته هغې ته وروننګرځېد.

دا چې شهرت يې زياد شو، د ليکلو ورځنۍ چارې يې هم ښې



کړې، دا هغه برنامه وه چې اوس يې هره يوه د هر کتاب په پيمانه شهرت لري: سهار څلور بجې له خوبه ويښېدل او له ۵ تر ٦ ساعتونو پورې ليکل، چې هره ورځ لس مخه ليکل دي، لږ تر لږه شپږ ميله منډه او لامبو وهل« هغه وايي يو وخت د جاز کلب مالک وم ژوند مې بې نظمه او ګډوډ وو. د سهار درې يا څلور بجې به ويده کېدم. خو چې کله ليکوال شوم، له ځان سره مې هوډ وکړ چې ثابت او په حساب او کتاب به ژوند کوم: سهار به ژر راويښېږم، او د شپې لخوا به وخته ويده کېږم او هره ورځ به ورزش کوم. زه په‌دې عقيده يم د بدن له پلوه بايد قوی يم تر څو قوي شيان وليکم».

موراکامي د خپلو کتابونو د انګليسي ژباړې له لوستلو خوند اخلي، ځکه داسې ورته ښکاري لکه يو نوی کتاب چې لولي. دی وايي«د غټو کتابونو ژباړه له يو تر دوه کلونو وخت نيسي، د انګليسي ژباړې د لوستلو پر وخت مې نور څه په ذهن کې نه وي». په ډېره مينه د کتاب مخونه اړوي.« له ځانه سره وايي چې له دې وروسته به څه پېښېږي؟ او کله چې د ده د کتابونو انګليسي ژباړن ورسره اړيکه نيسي: سلام ښاغلی هاروکي! زما ژباړه دې خوښه شوه؟ دی داسې ځواب ورکوي: فوق‌العاده کيسه وه! ډېره مې خوښه شوه!»

هاروکي موراکامي وايي:« کله چې ځوان وم، ۱۹٦۰ لسيزه، له آرمانونو ډکه وه، موږ په‌دې باور درلود که هڅه وکړو نړۍ او هيواد به مو ‌ يوښه ځای شي. په‌دې ورځو کې خلک دا ډول باور نه لري، او زما په نظر دا ډېره بوږنونکې ده. خلک ماته وايي ستا کتابونه عجيب او غريب دي، مسئله دا ده مخکې له دې چې يوې پرمختللې نړۍ ته ولاړ شې، بايد ستونزې تجربه کړو. دا زما د کيسو بنسټيز جوړښت دی. بايد له تيارو، د ځمکې له ژورو تېر شي تر څو روښنايي ته ورسېږي.»

په ټوله کې د موراکامي کتابونو غواړي لوستونکو ته ووايي ممکن ژوند ډېر عجيبه وي، خو دا ويرونکی خوب په پای کې ختمېږي، تاسو کولای شي خپله ورکه شوې پيښو پيدا کړئ.

# د پښتو او شغناني ژبو د غږونو پرتله

څېړونکې: شبنه ګهيځ

## سريزه

په انساني ټولنې کې ډېرې ژبې رامنځته شوي دي وده يې کړې ده او د يو هېواد رسمي ژبې په توګه تر اوسه ژوندي دي؛ خو ځينې ژبې د بيلابيلو عواملو له کبله يا خو د نورو ژبو تر اغېز لاندې بدل شوي او يا هم بيخي مړه شوي او له منځه تللي دي. د پاميري ژبې ډلې د هندواروپايي کورنۍ د اريايي ژبو جنوبي برخي له ډلې څخه هغه ژبه ده، چې تر اوسه ژوندۍ ده او د پامير غرونو شاوخوا کې خلک پرې خبرې کوي. شغنان ته په شغني ژبې کې خُوږنون، شغنانيانو ته خُوږنين او شغناني ته خُوږنه ويل کېږي.

د پاميري ژبو نه مقصد د اندواروپايي ژبو کورنۍ هغه اريايي ژبې دي، چې په پامير او هغه ته ورځېرمه سيمو کې خلک پرې غږېږي. د پاميري ژبو بيلابيل ګړدودنه نن سبا د افغانستان د بدخشان په پامير او پامير ته ورځېرمه سيمو لکه اشکاشم، واخان، شغنان، مونجان، زيباک، سنګلچ او نورو سيمو کې پرې خبرې کېږي. دغه ژبې د افاني پامير نه برسيره د تاجکستان په ځينو سيمو د چين سينکاينګ ولايت او د اوسني پاکستان په ګلګيت او د جمو کشمير په يو شمير سيمو کې هم ويونکي لري.

پښتو ژبه د هندواريايي ژبو د ارياني ځانګې د معاصرې دورې په شمال ختيځه ډلګۍ کې راځي. تقريباً د افغانستان په ټولو ولايتونو؛ د پاکستان په هغو سرحدي سيمو کې چې افغانستان ته نږدې پرتې دي؛ د چين په سيانکيان او د هند او ايران په ځينو سيمو کې پرې خلک پرې خبرې کوي.

د پښتو ژبې سره د شغناني ژبې نږدې ورته والی له کورنۍ اړيکې وروسته ليکدود څخه پيلېږي؛ ځکه چې له پښتو، دري او عربي ژبې له ليکدودونو څخه په ګډه ورته ليکدود جوړ او تر ننه په دغه ژبې کې کارول کېږي. بيا د دوو ژبو ورته والی تر فونيم، مورفيم او ويپونو پورې رسېږي. په هغه څه چې په دې مقالې کې پرې بحث کول غواړم شغناني ژبه، ليکدود، پښتو ژبه او د پښتو او شغناني ژبې فونولوژيکه پرتله ده. ددې څېړنې موخه شغناني او پښتو ژبه کې خپلمنځي اړيکې، ورته والی او بيلوالی ښودل دي.

شغناني(شغني) ژبه

د ژبپوهنې په اصطلاح کې د پاميري ژبو نه مقصد د اندواروپايي ژبو کورنۍ هغه اريايي ژبې دي، چې په پامير او هغه ته ورځېرمه سيمو کې خلک پرې غږېږي. د پاميري ژبو بيلابيل ګړدودنه نن سبا د افغانستان د بدخشان په پامير او پامير ته ورځېرمه سيمو لکه اشکاشم، واخان، شغنان، مونجان، زيباک، سنګلچ او نورو سيمو کې پرې خبرې کېږي. دغه ژبې د افاني پامير نه برسيره د تاجکستان په ځينو سيمو د چين سينکاينګ ولايت او د اوسني پاکستان په ګلګيت او د جمو کشمير په يو شمير ځيمو کې هم ويونکي لري.(غوربندي،۱۳۷۹ل: ۱۵۴)

شغناني ژبه د پاميري ژبو تر ټولو ستره ژبه ده ډېر شمير ويونکي لري، چې د اندواروپايي ژبو کورنۍ اريانې ښاخ باختري ګروپ، جنوبي ځانګې پورې اړونديږي، شغني د امو سيند په غاړو کې په شمال کې له دشت قلعه څخه نېولې بيا په جنوب کې تر درموخت پورې ويوونکي لري او همدا رنګه د ګونت درې او شهدرې په اوږدو کې هم ويل کېږي. د شغني ژبې تر ټولو مهم استوګنځای په تاجکستان کې خاورغ ښار دی. په افغانستان کې شغني د امو سيند په لويديځو غاړو او د پرشيت په ځينو درو پورې محدودېږي. ددغې ژبې د ويونکو شمير له شلو زرو تنو څخه زيات په تاجکستان او له ديرشو زرو تنو څخه زيات په افغانسان کې اوسېږي.

پښتو ژبه

پښتو ژبه د هندواريايي ژبو د ارياني ځانګې د معاصرې دورې په شمال ختيځه ډلګۍ کې راځي. تقريباً د افغانستان په ټولو ولايتونو؛ د پاکستان په هغو سرحدي سيمو کې چې افغانستان ته نږدې پرتې دي؛ د چين په سيانکيان او د هند او ايران په ځينو سيمو کې پرې خلک پرې خبرې کوي.

د شغناني ژبې نومونه(وجه تسميه)

شغنان ته په شغني ژبې کې خُوږنون، شغنانيانو ته خُوږنين او شغناني ته خُوږنه ويل کېږي. د شغناني ژبې د وجه تسميې يا نومونې په اړه ډاکټر خوش نظر پاميرزاد د خپل دکتورا رسالې کې داسې ليکي:"شغناني ژبه د تاريخ په اوږدو کې په بيلابيلو نومونو نومل شوې ده، چې شقنان، شقينه او شګنان په پنځمې هجري پيړۍ کې د دغې ژبې نوم شغناني شوه. شغنان ته په شغناني ژبه کې (خُږنون)وايي. خُوږ نون له دوو ويپونو ترکيب دی، چې خُوږ د خوږ او نون يا نهن په شغناني ژبه کې د مور مانا ورکوي؛ نو د دې ژبې د وجه تسميه په اړه داسې ويل شوي چې د خوږې مورې يا

د خُوږ وطن يادوي، دا ځکه دوی خپلو متونو کې نهن د ځمکې په نامه هم ياده کړې ده او بله دا چې دوی خپل ټاټوبي ته لکه مور احترام کوي نو په دې اساس يې نومونه يې شوې ده.(ثابتی،۲۰۱۲م: ۹)

د شغناني لهجې:

شغني ژبه په درېيو لهجو ويشل شوې ده:

۱: د ديجو لهجه، چې د شغنان په شمالي سرحد د امو سيند په يوه کوچنۍ فرعي درې کې دود دی.

۲: د شهدرۍ لهجه، دا لهجه د شهدرې په اوږدو کې له منشا څخه نېولې بيا تر توديم کلي پورې رسېږي.

۳: د بروز لهجه، چې پخوا ددشت قلعه ته نږدې په يوه کلي کې خلک پرې خبرې کولې؛ خو اوس مهال د يوې معياري شغناني لهجې ځای يې نېولی دی.(غوربندي،۱۳۹۷ل: ۱۵۷)

د شغناني ژبې ليکدود:

د تاجکستان په علوم اکاډمۍ کې له ۱۲۲۹م کال څخه وروسته د لاتين ليکدود له مخې يې شغناني ژبې ته ليکدود رامنځته کړ او تر ۱۹۳۷م کال يې دوام وکړ. بيا په ۱۹۹۰م کال کې يې ليکدود د سريليک ليکددو ته بدل کړ، چې په هغه کې د تاجکي ژبې توري وې؛ خو دا سريليک ليکدود په افغانستان کې عموميت نه لرل نو دې ته اړ شول چې د شغني ژبې د ښې زده کړې لپاره له داسې ليکدود څخه چې په ټولو ځايونو کې د ګټې اخيستنې وي.

لکه څنګه چې په افغانستان کې د ليک، لوست او رسمي ژبې پښتو او دری دي؛ نو د شغني ژبې د ليکدود په جوړولو کې له همده دو ژبو او عربي ژبې ليکدود څخه په ګټه اخيستنې سره يې داسې ليکدود رامنځته کړ چې هم زده کول او هم ليک پرې اسانه شول.

د شغني ژبې ليکدود په لاندې ډول دی:

آ ا ب پ ت ث ج چ څ ځ ح خ د ډ ذ ر ز ژ ږ س ښ ش ص ض ط ظ ع غ ف ق ک ګ ل م ن و ؤ ه ی ې

دغه ليکدود له څلويښتو توريو جوړ دی، چې په کې څلور د پښتو ژبې(څ ځ ښ ږ) اته عربي توري(ث ح ص ض ط ظ ع ق) درې د شغني ژبې(ث ډ ؤ ) ځانګړي توري دي. د ؤ په اړه داسې ويل کېږي چې شغناني ژبه د پخوانيو اريائي ژبو پاتې شونې دي او اريائي ژبو کې دا غږ نشته؛ نو دا غږ له ازبيکي ژبې ورته راغلی؛ همداسې ليکښه ورته ټاکل شوې او په کې پاتې دی. نور پاتې توري له فارسي ژبې څخه اخيستل شوي دي. له پښتو ژبې سره يې اړيکه له کورنۍ اړيکې وروسته له توريو او غږونو څخه پيلېږي.

د پښتو او شغناني ژبو فونولوژيکه پرتله

فونولوژي د ګرامر هغه برخه ده چې يوازې ارزښتناکه غږونه څېړي. فونيم د ژبې تر ټولو کوچنی غږيز واحد دی چې په خپله کومه مانا نه لري؛ بلکې په مانيزو کلمو کې مانيز توپير پېښوي.

پښتو ژبه له ۳٦ غږونو يا اوازونو څخه جوړه شوې ده. چې دغه غږونه بيا په خپل ځای په درېيو برخو ويشل شوې ده. ۷ خپلواک غږونه، ۲۷ ښواک او ۲ نيمواک غږونه دي. شغناني ژبه له۳۵ غږونو څخه جوړه ده، چې ٦ خپلواک، ۲۷ ښواک او ۲ يې هم نېمواک غږونه دي.

ښواک غږونه

پښتو او شغناني ژبه دواړه د ۲۷ ښواکو غږونو لرونکي دي، چې فونتيک او ګرافيم بڼه يې په لاندې ډول دی:

د شغناني ژبې ښواک غږونه:

| ش | توری | فونټيک | شغناني ژبه | پښتو ژبه(معنا) |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | ب | B | بشَ~ند | ښه |
| ۲ | پ | P | پوند | لاره |
| ۳ | ت،ط | T | توغم، طوطِه | کرنيز تخم، طوطي |
| ۴ | ث،ص، س | S | ثواب، صبر، سِت | ثواب، صبر، خاوره |
| ۵ | ث | Th | ثِداو | سوځېدل |
| ٦ | ز،ذ، ض،ظ | Z | ذات، ضرور، ظالم، زنګان | ذات، ضرور، ظالم، زنه |
| ۷ | ج | 7 | جُکتاو | ټک وهل |
| ۸ | چ | 5 | چيد | کور |
| ۹ | څ | Tch | څيم | سترګه |
| ۱۰ | ځ | 7 | زريځ | ځرک |
| ۱۱ | خ | X | خيان | ورېندار |
| ۱۲ | د | D | دِؤوسک | مار |
| ۱۳ | ر | R | روشت | سور رنګ |
| ۱۴ | ژ | F | ژير | تېږه |
| ۱۵ | ډ | Th | ډَد | جګړه |
| ۱٦ | ږ | F | ږيو | ښکار |
| ۱۷ | ش | G | شوډ | اغزی |
| ۱۸ | ښ | G | ښخ | اوبه |
| ۱۹ | غ | Gh | غوږ | غوږ |
| ۲۰ | ف | F | فنَد | دوکه |
| ۲۱ | ق | Q | قين | خپه |
| ۲۲ | ک | K | کُت | لنډ |

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| ٢٣ | گ | G | گِچ | وزه |
| ٢۴ | و،ۋ | V | وابښ،ۋراد | وابښه، ورور |
| ٢۵ | ل | L | لَپ | ډېر |
| ٢٦ | م | M | مون | منه |
| ٢٧ | ن | N | نُر | نن |

په شغناني ژبه کې د (ح)او(ه)غږونه نه تلفظ کېږي، هغه خپلواک غږونه چې له دوی څخه وړاندې یا وروسته راشي په ویلو کې ادا کېږي. د ساري په توګه د (ه) غږ د هَفته[afta]په ویی کې چې د خپلواک غږ ادا او ه نه ادا کېږي.(ح) غږ هم یوازې په عربي وییونو کې راځي.

د(ع) او (ء) چې حلقي غږونه دي دا غږونه هم په عربي وییونو لکه عار، عذر او مأیوس کې راځي؛ خو نه ادا کېږي.

د شغناني ژبې د ځانګړو غږونو په اړه:

ث اوث: ث د عربي ژبې غاښیز بېواک غږ دی؛ خو ث د شغناني ژبې یو کلک تالویز، مښلی او بېواک غږ دی. لکه: میث(ورځ) او ماذث(اعصا)

ڎ : دا یو مښلی، غاښیز بې واک غږ دی چې یوازې په شغناني ژبه کې کارول کېږي. لکه:توڎ (توت) او ڎَد (جګړه)

ۋ : د شغناني ژبې یو شونډ غاښیز، ګرد او بېواک غږ دی؛ خو د پښتو ژبې د و خپلواک غږ غوندې خاصیت لري. لکه: ۋراد(ورور) او ۋَ~ښ (پړی)

خپلواک غږونه:

| ش | شغناني | پښتو |
|---|---|---|
| ١ | اَویځون[awizun] | ځوړند |
| ٢ | اُوف[owf] | بخښنه |
| ٣ | ښِوداو[weshawdaw] | خوشبخل |

شغناني ژبه ٦ خپلواک غږونه لري چې هر یو په خپل ځای د وییونو په جوړلو کې ونډه لري. د شغناني ژبې خپلواک غږونه دا دي:

| ش | فونتیک | غږ | شغناني ژبه | پښتو ژباړه |
|---|---|---|---|---|
| ١ | A | اَ | اَیین، آنبون | دویمه ښځه، وزن |
| ٢ | E | اِ | اِکداند، پِداو | همدومره، خرابېدل |
| ٣ | o | اُ | لُق، اُق | جامې، وتلی |
| ۴ | I | ي | ایچه، وسیچه | ځاله، یخ وهلی واوره |
| ۵ | U | و | توڎ، شوڎ | توت، اغزی |
| ٦ | â | ا | اش، ناش | اش، زردالو |

د شغناني ژبې په خپلواکو غږونو کې لومړی درې خپلواک غږونه د فتحه، کسره او ضمه خپلواک غږونه دي او پاتې درې نور خپلواک غږونه یې د پښتو ژبې له خپلواکو غږونو سره ورته دي. چې لنډ و، لنډه یا او الف دي هم د فونټیک او هم د غږ د ادا په ډول کې سره ورته والی لري.

نیمواک غږونه:

شغناني ژبه هم د پښتو ژبې په څېر دوه نیمواک لري چې د ادا او خاصیتونو له پلوه سره ورته دي. د ی[j ]او و[w]غږونه.

و [w] دا نیمواک د زور، زیر او پېښ خپلواکو غږونو څخه وروسته راځي. لکه:

ی [j] دا نیمواک غږ له ټولو خپلواکو غږونو څخه مخکې یا وروسته راځي.

| ش | شغناني | پښتو |
|---|---|---|
| ١ | وایمه[wajma] | کلی |
| ٢ | یارج[jaF7] | وړه |

غبرګغږ (دیفتانګونه):

دیفتانګونه د خپلواکو او بېواکو غږونو له یو ځای کېدو څخه منځ ته راځي؛ یا په بله وینا هر دیفتانګ غږ دوه فونیمی عناصر لري چې یو یې خپلواک او بل یې نیمواک وي.

د شغناني ژبې غبرګغږونه په لاندې ډول دي:

| ش | فونتیک | غبرګغږ | شغناني ژبه | پښتو معنا |
|---|---|---|---|---|
| ١ | a | اَ،هَ | اَنبان ، تاقه | یوازې |
| ٢ | e | اِ | اِنجوم | څیزونه |
| ٣ | o | اُ | اُښه، اُځمَد | اه، بلدتیا |
| ۴ | i | ای | ایچه | ځاله |
| ۵ | u | او | اون، اوف | هو، عفو |
| ٦ | X | خو | خواګینه[xâgine]، خوېښ[xiG] | هګی، خپلوان |

په درې لومړني غبرګغږونو الف د زور، زیر او پېښ غږونو ته د څوکی په توګه راغلي؛ خو ادا کېږي نه یوازې همغه غږونه په کې ادا کېږي پاتې درې نور غبرګغږونه دي چې په شغناني ژبې کې د کارولو وړ دي. د پښتو ژبې له غبرګغږونو سره یې توپیر په دې کې دی چې پښتو ژبې کې غبرګغږونه د نیمواک او خپلواکو غږونو له یو ځای کېدو څخه رامنځته کېږي؛ خو د شغناني ژبې داسې نه ده.

د شغناني ژبې ځینې کاریدونکي جملې:

ـ دهڅ اِک بن دم یوښکېن (اوښکې تویې شوې.)

ـ ید دروغ ګهپ یو ته دېس نه کِښت (نه هغه خبره دروغ ده، هغه دا کار نه کوي)

ـ ڤرات تو اُم ڤِراد (زه او ته ورونه یو.)

ـ توت یېداند وېښت ڎر سه شِج (ته دلته وغورځېدې اوس لرې شه) (ارکان، ۲۰۱۸م: ۱۱٦)

## پایله

څېړنې دا راښایي چې شغناني ژبه هم د لهجو د توپیر پر بنسټ بېلابیل توپیرونه لري، او دا توپیر په شاخدره یې لهجه کې ډېر تر سترګو کېږي. له دې څېړنې څخه موخه دا وه چې شغناني ژبه یو څه وپېژنو؛ د لهجو په توپیرونه یې پوه شو؛ له پښتو ژبې سره پرتله پر بیلوالي او ورته والي یې پوه شو.

شغناني ژبه لکه څنګه چې یادونه مو وکړه له پښتو سره د یوې کورنۍ ژبې دي؛ دا چې دغې ژبې ته له پښتو ژبې لیکدود رامنځته شوی د تورو او غږونو په تداخل سره یې د شغناني او پښتو ژبو تر منځ له بیلوالي زیات ورته‌والی لېدل کېږي. په پای کې که دا ژبه نوره هم وڅېړل شي کېدای شي تر دېره به پراختیا او پرمختیا ولري.

## ماخذونه


۱: ارکان، سرور شاه؛(۲۰۱۸م)؛ توپچي بخت بیکف(ګرامر زبان شغناني)؛اداره نشرات سیمای شغنان: اکادمي علوم جمهوری سوسیالیستی تاجکستان انستیتوت زبان او ادبیات رودکی.

۲: ثابتی، نوروز علی؛(۲۰۱۲م)؛ وجهه تسمیه شغنان؛ بدخشان فیض اباد.

۳: چمتو، محمد قسیم؛(۱۴۰۰ش)؛ د پښتو ژبې مورفولوژیکي او فونولوژیکي بدلون(تاریخ تحول)؛ کابل: سمون خپرندویه ټولنه.

۴: خوېشکی، محمد صابر؛(۱۳۹۵ل)پښتو غږپوهنه او ویي پوهنه(فونولوژي او مورفولوژي)؛ جلالکوټ: ختیځ خپرندویه ټولنه.

۵: غوربندي، میراجان؛(۱۳۷ل)؛ تاریخي او مقایسوي ژبپوهنه؛ کابل: نویسا خپرندویه ټولنه.

غوربندي، میراجان؛(۱۳۹۵ل)؛ ګړدود(لهجه)پوهنه؛ کابل: جهان دانش خپرندویه ټولنه.


# درې کړنې

ډاکټر محمد فرید بزګر

## ۱-او دې ته انسانیت وایي!

سوزن هولیرټس بېجلیمی ده. ۹۰ کلنۍ کې له کرونا مره شوه. مرګ نه وړاندې یې ډاکټرانو ته وویل چې تنفس اخیستونکی ماشین کوم ځوان ته ولګوئ (له ما زیات هغه ته ډېر ضرورت ده).

ما ډېر ښایسته ژوند وکړ!!!....

## ۲-او دې ته مسوولیت وایي!

په ایټالیا کې د (کور باندې) لاک ډاون پر مهال یو زده کونکی د ریاضي سوالونو په حل کې له ستونزې سره مخ کیږي، استاد ته په دې اړه ایمیل کوي. استاد له سپینې تختې سره د کور مخې ته ورځي او ستونزه یې هواروي. دا د مسولیت او د قوم د تعمیر بینظیره بېلګه ده.

## ۳ -دې له تاسې نوم ورکړئ

د کور نږدې پارک باندې مو کار روان دی، پرون یې د چوکیو لپاره ځایونه جوړ کړل، دغه پلاستیکي پټی یې ترې چاپیر کړه، چې د مځکې تر کلکېدو پورې څوک په چوکي کښېنني، خو نه پوهیږم ځینې باید په هر ډول چې وي د ټولنې ضد کړنې تر سره کړي، که څه هم په نږدې کې یې نورې چوکۍ شته چې په کښېني خو دوی همدې چوکۍ ته چې دا پټی ترې د نه کښیناستلو لپاره چاپیر شوې ده، ناست دي.


3


2


1



# د وربښمو کاروان

## چلوونکې او مسئوله: شیبه ګهیځ



د وربښمو کاروان د دعوت مجلې ادبي برخه ده. په دې برخې کې د شاعرانو او لیکوالانو له پیژاند نیولې تر طنزونو، لنډو کیسو، ادبي ټوټو، ادبي څېړنو او نور بیلابیل ادبي او غیر سیاسي لیکنې د هنري ذوق خړوبولو او معلومات ورکولو په موخه خپرېږي. د دې برخې د لا پراختیا او غوړیدا په موخه مو د نېک نظر او د قلم خاوندانو د قلم چلولو په هیله یو.

dawatafghanmedia@gmail.com

## د محمد صفر خواریکښ ادبي مزل

### (مرکه)



**پېژندنه:**

محمد صفر خواریکښ د ۱۳۲۷ل کال د لیندۍ په ۲۹مه د کونړ ولایت د منځنی اسداباد ښار په دمکلي کې د میرزا محمد جان په کاله کې نړۍ ته سترګې پرانیستي دي.

محمد صفر خواریکښ لا د ښوونځي عمر ته نه و رسیدلی، چې په اسدآباد کې د دمکلي د جامع جومات له امام نه یې د سیپارې پیل او له همدغه استاد څخه یې دیني زده کړې ته دوام ورکړ. پنځم ټولګی یې په اسد آباد کې پای ته ورساوه. د شپږم پیل یې د رحمان بابا په لیسه کې وکړ.

پر ۱۳۴۷ل کال د رحمان بابا له لیسې څخه فارغ او د همدغه کال په ژمي پوهنتون ته د شاملیدو لپاره یې د کانکور ازموینه ورکړه، له نیکه مرغه بریالی شو. د ۱۳۴۸ل کال په پیل کې د کانکور ازموینو د پایلو له اعلانیدو وروسته مالومه شوه، چې د ازموینې له امله د دولسمو ټولګیو ګڼ شمیر فارغان د هېواد په پوهنتونو او د لوړو زده کړو موسسو له زده کړو بې برخې شول. دوی د حکومت د نوي کړنلارې پر خلاف لاریونونه پیل کړ. حکومت د پر له پسې لاریونو له امله د کابل پوهنتون پر لیله زده کړیالانو خواړه، اوبه او برېښنا قطع کړه او د پوهنتونو دروازې یې وتړلې. په دې ډول د هغه وخت زده کړیالان یو کال له زده کړې بې برخې شول.

۱۳۴۹ل کال د پوهنتون د تعلیمي کال بیا پیلیدو سره د بیلا بیلو سیاسي سازمانونو د کړنلارو له هر اړخیزې مطالعې وروسته یې د افغانستان د خلک دیموکراتیک ګوند په لیکو د مبارزې ژمنه وکړه. زده کړو ته دوام او پر ۱۳۵۲ل کال د کابل پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځي د ژورنالیزم له څانګې فارغ شو.



صفر صیب د افغانستان دیموکراتیک جمهوریت او د کوریا دیموکراتیک جمهوریت د دوستۍ ټولنې غړیتوب هم درلود. د کوریا دیموکراتیک جمهوریت، شوروي اتحاد (روسیه، ازبکستان، ګرجستان، لیتوانیا، ابخازیا، ملدوایا) چکسلواکیا، بلغاریا، مجارستان، هنګري، المان او پولند ته یې رسمي سفرونه کړي دي. بیلاروس، اوکراین، ترکمنستان، تاجکستان، المان، پاکستان، انګلستان، فرانسه،

بلجیم، ترکیه، دوبۍ او عربستان سعودي ته يې غیر رسمي سفرونه هم کړي دي.

دا مهال له بده مرغه د زیات شمېر نورو افغانانو په څېر خواریکښ صیب هم له هېواد څخه بهر په دنمارک کې د کډوالۍ ژوند تیروي. په دنمارک کې هم د یو ژمن قلموال په توګه د خپل فرهنګ د پیاوړتیا او پښتو ژبې د بډاینې لپاره کار کوي. له ۲۰۰۹ز کال راهیسې د دنمارک دولتي کتابتون سره د پښتو او دري ژبې په برخه کې يې د سلاکار په توګه کار کړی او په دغه موده کې په دواړو ژبو د دنمارک میشتو افغانانو لپاره په سلګونو عنوانو کتابونه له افغانستان څخه ورغوښتي دي. دنمارک میشت افغانان يې کولی شي د خپل استوګنځایونو ته نږدې کتابتونو څخه يې امانت تر لاسه کړي

خواریکښ د خپل فرهنګي ژوند په اوږدو کې د چاپي رسنیو په لړ کې د کهول، پکتیا په مجلو، د ثور انقلاب، د ثور انقلاب حقیقت او انیس ورځپاڼو کې دنده تر سره کړې ده له بیلابیلو ورځپاڼو، مجلو، اونیزو او غږیزو رسنیو سره يې قلمي همکاري درلوده. ګڼې سرمقالې، مقالې او اثار لیکلي، ژباړلي او پنځوني يې کړي دي، هغه اوس هم په خپلو فرهنګي هڅو کې لکه پخوا فعال او هوډمن دی. لیکنې او ژباړې کوي په شعر او داستاني ادبیاتو کې پنځوني هم کوي، چې په همدې باب مو له خواریکښ صیب سره مرکه کړې او د هغه ادبي مزل د لارې له ناویلو مو خبروو.



**د خواریکښ صیب چاپ او ناچاپ اثار دا دي:**

۱: دنمارکي ـ پښتو سمندرګی. د ۲۰۱۰ز کال چاپ

۲: د روڼاند نقش ـ ژباړه ۲۰۰۸ز کال چاپ

۳: پردیسي څریکې ـ لومړی شعري ټولګه

۴: د هیلو کر ـ دویمه شعري ټولګه

۵: د ټولې نړۍ متلونه د نړۍ له دوه سوه ژبو څخه له پنځه زره کلونو راهیسې ۹۰۰۰ زره متلونه او مقولې ـ له دنمارکي ژباړه.

۶: افغانستان له هورا تکبیره ـ لیکنه او څېړنه ۲۰۲۰ز کال چاپ

نا چاپ آثار:

۱: د بالښتونو لاریون لنډې کیسې او کیسه ګۍ

۲: اخ، که مینه عبادت وای ـ دریيمه شعري ټولګه

۳:سور څڅوبۍ ـ څلورمه شعري ټولګه

۴: ولسي کیسې او کیسه ګۍ

**شبیه: تاسو ژورنالیزم لوستی نو ادبیاتو ته څنګه لېوال شوئ؟**

**خواریکښ صیب:** شبیه جانې تاسو ته به پته وي که نه، هغه مهال (۱۳۴۸ل کال)چې ما په پوهنځي کې زده کړې پیل کړې ژورنالیزم د ادبیاتو او بشري علومو د پوهنځي یوه څانګه وه. د پوهنځي په لومړي ټولګي کې به د پښتو او دري ژبې ادبیات، تاریخ، جغرافیه او نور مضامین ویل کېده او په دوهم ټولګي کې به د زده کړیالانو د ازموینو په پام کې نیولو یا هم ځینې وخت د هغوی د علاقې وړ څانګو ته ورکول کېده او پاتې زده کړې به یې په بیلابیلو څانګو لکه: ژورنالیزم، تاریخ، جغرافیه، دري او پښتو ادبیات، عربي، انګریزي، فلسفه او نورو کې دوام ورکوه.

په ژورنالیزم کې په ژبو او ادبیاتو پوهېدل اړین دي؛ خو ژورنالستان دې ته اړ نه دي چې د ژبې د ادبیاتو د مسلکي کسانو سره برابر په ادبیاتو هم وپوهېږي. دا اړینه ده چې د ژبې په ټولو باریکیو وپوهېږي، که نه نو لیکنې که په هر ژانر کې وي پیکه به وي. ژورنالیست که په چاپي رسنیو کې وي نو اړینه ده، چې املا او انشا يې سمه وي. ان دا چې که په پښتو لیکنې کوي د یاګانو په ډولونو پوه او سم یې وکاروي. که په غږیزو رسنیو کې کار کوي نو اړینه ده چې کلمات سم تلفظ کړي. نه دا چې د (الف) پر ځای (هه) یا (ع) تلفظ کړي یا برعکس له بده مرغه موږ ډېر داسې لوستي کسان لرو چې دغه تیروتنې په تیره بیا ویاندویان يې کوي

**شبیه: شاعري مو څنګه پیل کړه، که مو یاد وي د لومړني شعر په هلکه مو ووایئ؟**

**خواریکښ صیب:** خپل لومړنی شعر مې په یاد نه دی؛ خو دومره مې په یاد دي چې د کډوالۍ او جلا وطنۍ په مهال همدلته په دنمارک کې ۲۰۰۰ ز کال کې په کاغذ لیکلی و او تر ډېره مې په جیب کې و ؛ خو ما شعر نه باله ځکه د شعري معیارونو په تله مې لا نه و تللی. کاغذ رانه لادرک شو او ما بیا تر ۲۰۱۰ یا ۲۰۱۱ کال نور د شعر لیکلو جرات ونه کړ.

**شبیه: ډېری وايي شعر الهام دی، آيا تاسو هم په همده نظر ياست؟**

**خواريکښ صيب:** هو، زما په اند هم شعر الهام او مخيل کلام دی. ډېری نور هم په همده باور دي. « شعر يو الهي ډالۍ او اسماني الهام دی؛ يو شهاب دی چې کله کله د خيال او عاطفې به اسمان کې ځلېږي او زيات دوام نه کوي. هغه څوک چې له دغه شغلي څراغ بلوي، د ژبې وجود کې روح ورکوي شاعر دی.» د الهام تر څنګ د ښه شعر لپاره شعري معيارونه او د شاعر عاطفي احساس هم اړين او خوند زياتوونکي توکي دي؛ خو نه هر موزون کلام شعر دی او نه هر عاطفي کلام شعر وي.

**شبیه: خواريکښ صيب د شعر يا هم د ښه شعر تعريف څنګه کوي؟**

**خواريکښ صيب:** که شعر د شاعر احساس لوستونکي يا اوريدونکي ته ولېږدولی شي او اغېزمن يې کړي زما په اند ښه شعر يې بللی شو. انګريز فيلسوف بيکن(۱۵۶۱ـ۱۶۲۶ز) په دې باور و.« چې هنر د هنرمند د شعور ذوق، اند، اولاد او د هغه د روح ريوټ دی. هنرمند تل د خپل هنر په تنسته(تار و پود) کې ژوند کوي. هېڅ اثر او په ځانګړې ډول شعر هېڅکله د شاعر يا هستوونکي له وجود څخه جلا نه وي او نه شي کېدای جدا وي.»



شعر او شاعري زما لپاره د مينې لوبه ده، د شعر ويلو پر مهال سخت خوند اخلم او له ويلو وروسته يې د ارامۍ احساس کوم. د هر ښه شعر په لوستلو خوند اخلم؛ خو د خپل شعر راته د خپل ماشوم په څېر ښکاري، چې په لوستلو يې داسې احساسوم لکه خپل ماشوم چې په غېږ کې نيسم. د شعر لار د مينې لاره ده چې هېڅ پای نه لري.

**شبیه: تاسو وويل «د شعر لار د مينې لاره ده» نو مبين شوئ بيا مو شاعري پيل کړه، که د وطن حالاتو اغېزمن کړئ؟**

**خواريکښ صيب:** بلکل د شعر لار د مينې لاره ده، ما ته بې مينې ژوند ډېر پيکه او بې مانا ښکاري. که روښانه يې ووايم د بې مينې ژوند تصور هم نه شم کولی، چې انسان دې سالم وي او مينه دې ونه لري امکان نه لري.

زه خو:

**د مينې درد سره هسې روږدی شومه   چې اوس بې مينې راته خوب نه راځي**

نو ځکه:

**زه په زغرده باندې وايم چې مبين يم   لار مې مينه، کار مې مينه، په دې دين يم**

مينه مې له شاعرۍ ډېره مشره ده، شاعري مې د جلا وطنۍ زېږنده بللی شم. په مينه کې مې ناکامۍ نه ده ځکلې چې د زړه براس په شعر کې وباسم.

**شبیه: په کوم فورم کې مو شاعري ډېره ده او ډېری وخت موضوعات يې څه وي؟**

**خواريکښ صيب:** که څه هم په شعر او شاعرۍ کې مبتدي يم او ځان برلاسی نه بولم؛ خو د غزل، څلوريزې، نظم او ازاد شعرونو په فورم کې مې د شعر ويلو جرات کړی دی. په دغو فورمونو کې چاپ شوي او ناچاپ اثار لرم. د زياتو شعرونو منځپانګه مې د هېواد د ويرژلو حالاتو انځور او د انساني او هېوادنۍ مينې په اړانه کې خرګند او روښانه پيغام وي. که زما شعري ټولګو ته لاسرسی نه لرئ؛ نو په مخکتاب کې په لوستلو يې به منځپانګه پوهېدئ شئ.

**شبیه: ټولنې ته د ادبياتو (شعر، لنډۍ، کيسې او نور ادبي صنفونو) اړتيا څه ده؟**

**خواريکښ صيب:** څرنګه چې د ادبياتو هر صنف ځانته ځانګړی خوند او رنګ لري، همدارنګه ځانګړې مينه وال هم لري. چې خپله ادبي تنده پرې ماتوي. زموږ په ټولنې کې ټولو ادبي صنفونو ته اړتيا محسوسيږي او هر يو يې خپلې ځانګړې اغېزې لري. شعر د غوره کلماتو د انتخاب او اوډنې له امله ځکه ځانګړی اغېز لري، چې ډېری ځل داسې شوي دي؛ پوره يو کتاب مطلب په يو بيت يا څلوريزې کې بيان شوی وي او د موزون والی او آهنګ لرلو له امله هم په اوريدونکي او لوستونکي اغېز لري. په اسانۍ تر ډېره په ذهن کې پاتې کېږي؛ خو نثر بيا دغه امتياز او ښېګنې نه لري.

لنډه کيسه هم زيات مينوال لري او د سکالو او پېښې د بيان لپاره ځکه اغېزمن صنف دی، چې د اوسمهال د لوستونکي د ژوند ډول د بدلون له امله تل په بيړه کې وي. د اوږدو ليکنو د لوستلو لپاره ورسره د وخت کمی وي؛ نو ځکه لنډې کيسې په مينه لولي. د لنډو کيسو د ليکوال قلمي پياوړتيا تر رومان ليکونکي زياته اړينه ده او بايد وکولای شي چې په لنډو کيسو کې سکالو انځور کړي. ځينې داسې پېښې وي چې بيان يې تفصيل ته اړ وي او د دغه راز د حالاتو بيان په اوږدو کيسو او رومان کې شوني او اسان وي.

د يوې ټولنې د ادب د ښکلا او پياوړتيا لپاره له لنډيو، شعر او شاعري نيولې

تر کیسه ګیو، لنډو کیسو، رومان، ډرامو او یونلیکونو پورې ټول د ټولنې د اذهانو په روښانتیا کې پوره اغېزه لري.

**شېبه: د هېواد اوسني حالاتو ته په کتو څه ډول پنځونو ته اړتیا وینئ؟**

**خواریکښ صېب:** زما له انده د هېواد حالاتو ته په کتنه په ریالیستیکي ډول د افغان ولس د غمیزې د هر ویرژلي حالات بیان او انځورول او نړیوالو ته یې رسول په هر ادبي ژانر کې اړین دي؛ نو د عامه پوهاوي لپاره ادبیات ستره اغېزه لري. د نړۍ سترو لیکوالانو عامه ذهنیتونه په هغه لور چې غوښتي یې دي سیده کړي دي.

**شېبه: د اوسني یا ځوان کهول د پنځول شوي اثارو په هکله څه نظر لرئ؟**

**خواریکښ صېب:** د اوسني ځوان کهول پنځونې ما ته ښې ښکاري خو چې له سیاسي، دیني، مذهبي، ژبني او جنسي تنګ نظریو ازادې وي. په پټو سترګو د سیاسي دلالانو او د دین او ایمان په سوداګرو پسې لاړ نه شي، په خپل لاس ترې داسې بتان جوړ نکړي، چې ماتول یې بیا ورته ستونزمن وي. له ځوانو قلموالو څخه زما دا غوښتنه ده، هغوی چې په نورو ژبو پوهېږي د خپلې ژبې د بډاینې لپاره علمي اثار وژباړي.

**شېبه: څه ډول اثار لولئ او د چا له افکارو اغېزمن یئ؟**

**خواریکښ صېب:** لا په لومړني ښوونځي کې، ګومان کوم پنځم ټولګي کې به وم چې د (څریکې) په نامه مې د اشرف مفتون شعري ټولګه لاسته راغله. په ډېر شوق مې ولوستله او له خپل خدای بخښلي پلار به مې د ځینو بیتونو د لغتونو د مانا پوښتنه کوله، هغه مهال مې د لنډیو له اوریدو او شعر لوستلو خوند اخیست. په پښتو ژبه کې مې لومړنۍ د لنډو کیسو ټولګه (د محلونو خوا کې) ولوست، چې د کوزي پښتونخوا د کوم لیکوال اثر و، له بده مرغه چې نوم یې را څخه هېر دی. هماغه وختونو کې مې د اروانباد اجمل ختټک(دا زه پاګل وم) او (د غیرت چغه) لوستي وو. چې اغېزمن کړی هم وم. وروسته مې کم په پښتو او ډیر په دري ژبه کې داستاني او غیر داستاني کتابونه لوستل، چې هر یو یې په خپل وخت پر ما خپل ځانګړی اغېز درلود.

د ماکیسم ګورکی د (مور) له اثره نیولی تر د ویکتور هوګو تر (بینوایان) او د نور د لیکوالو اثار لوستي؛ خو دلته د ټولو یادونه یو څه سخته وي. د شعر لوستلو تنده مې د دواړو ژبو پښتو او دري په شعرونه ماتیږي.

د کتابونو د لوستلو اړوند به دومره ووایم، چې زه نېکمرغه یم چې په پراخه کچه کتابونو ته لاسرسی لرم. زه نږدې دوه لسیزې د دنمارک هېواد د دولتي کتابتون د بهرنیانو له برخې سره د پښتو او دري ژبو د کتابونو د انتخاب او تشریح په برخې کې سلاکار وم، چې اوس دغه برخه د شاهي کتابتون په اډانه کې فعالیت کوي. زه لا اوس هم ورسره همکاري لرم؛ نو د دندې له مخې هم نوي اخیستل شوي کتابونه ولولم او په ځانګړې الفبې(ایبڅې) ځانګړیو پاڼو (فورمونو) کې ولیکم. د یادونې وړ یې بولم چې دلته په دنمارک د ښاروالی له هر سیمه ییز کتابتون نه په خپلو مورنیو ژبو د کتابونو د امانت اخیستلو اسانتیاوې شته. له همدغو اسانتیاوو نه په ګټه اخیستنې سره مې په دې وروستیو کلونو کې د بهرنیو لیکوالو په اثارو کې د ایتالیوي لیکوالې اوریانا فلاچي، کولمبیایي لیکوال ګابریل ګارسیا مارکیزاو ولادیمیر ناباکوف او ځینو نورو د اثارو له لوستل خوند اخیستی او په لنډو کیسو کې مې د فرانتس کافکا کیسې خوندورې ولیدې.



**شېبه: اوس چې په هېواد کې ډېری ادبي، فرهنګي اوکلتوري مرکزونه تړل شوي یا یې هم مسوولین بهر وتلي، د دې لنډ مهالي او اوږد مهالي اغیزې به په پښتو ادب څنګه وي؟**

**خواریکښ صېب:** په هېواد کې وروستیو بدلونونو له بده مرغه د ژوند پر ټولو سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او فرهنګي برخو زښت ناوړه اغېز کړی دی. دغه منفي اغېز تر ټولو زیات په فرهنګي ا ادبي برخه کې په څرګنده محسوس دی. په میاشتو میاشتو کتاب پلورنځیو ته څوک سر نه دننه کوي، د کتاب چاپولو ماشینونه په ګردونو کې پټ دی، د موسیقي هنر له یوه مخه ناروا او حرام بلل شوی، د سندرغاړو بې عزتي شوې ده او سینما هم همدا ډول. نو ناوړه او ډېر ناوړه اغېز یې په پښتو ادب او هم د هېواد د ټولو نورو ژبو پر ادب په لنډ مهال او اوږد مهال داسې محسوس دی، چې جبرانېدل یې ناشونی او ډېر ستونزمن دی.

**شېبه: پښتو ادبیات او شاعري څنګه تر بهرنیانو رسوی شو، یا هم څه باید وشي چې نړیوال پښتو ادب سره اشنا شي؟**

**خواریکښ صېب:** د پښتو ژبې شاعري او په ټوله کې ادبیات به هغه وخت بهرنیانو ته ورسیږي، چې لکه فارسي ژبې نورو ژبو ته وژباړل شي. تر کومه ځایه چې زه خبر یم دا کار په پښتو کې ډېر کم شوي چې په نشت حساب دي.

**شبېه: بهر میشتي پښتنانه شاعران یا هم تاسو په دنمارک کې څنګه شاعرانه بنډارونه جوړوئ؟**

**خواریکښ صېب:** هو، کله نا کله د کرونا وبا او له دغه امله د لګیدلي بندیزونو مخکې د دنمارک میشتو افغانانو بیلابیلو ټولنو مشاعرې او ادبي بنډارونه درلودل. چې زموږ د لیکوال ادبپالي ټولني لخوا هم دوه پلا د ستاینغونډو کې چې (د اروانباد علي ګل پیوند او محمد صفر خواریکښ) د ادبی کارونو د قدردانی په پار جوړې شوې وې، مشاعرې هم وشوې.

**شبېه: صفر صېب! له تاسو او وخت ورکولو مو نړی مننه د اخري پوښتني په بڼه د دعوت رسنیز مرکز فعالیتونه، مجله او ادبي هڅې یې څنګه ارزوئ او د لا ښه والي لپاره څه کول پکار دي؟**

**خواریکښ صېب:** که څه هم د دعوت رسنیز فرهنګي مرکز د ټولو فعالیتونو په اړوند د ځینو لاملونو له امله خپل وخت او پرله پسي توګه بې نصیب وم؛ خو په دې وروستیو کې د دعوت مجلې له لارې د دغه رسنیز مرکز د ډېرو فرهنګي او ادبي کارونو خبر شوم. دغه رسنیز مرکز پازوال مشر ښاغلی محمد طارق بزګر مې د یو پیاوړي مسلکي ژورنالیست په توګه پېژانده او په دې هم پوهېدم چې د مسلکي کارونو پوره وړتیا لري؛ خو دا ګمان مې نه کاوه چې د جلا وطنی په سخت ستونزمن اکر او اقتصادي تنګسه کې به د دومره کارونو حوصله او توان ولري.



زما له انده اطلاع او معلومات رسونه، ولس پوهول، د عامه ذهنیتونو روښانول، د ادب پېژندګلوي او بډاینې په موخه د ادبي او سرګرمووونکو مطالبو خپرول، چې څرنګه او څومره له یوې چاپي رسنۍ تمه کېږي، دعوت مجله په دغه معیارونو برابره او له یوې ورځې یې بلې ته کوټلي ګامونه اخیستي دي. د دعوت رسنیز فرهنګي مرکز کار او زیار د ادبي، سیاسي، علمي او معلوماتي مطالبو د خپرولو له لارې که په مهالیزو خپرونو کې وو او که د کتابونو د خپرونې له لارې د تایید او ستاینې وړ بولم.

د خواریکښ صبب د کلام بیلګې:

## غزل

د رواج تیارو کې پټ دي د لیلا مخ
موده وشوه ومې نه لید د اشنا مخ
په دلبر مې باور دومره و پوخ شوی
چې به ما ته ښکاره نه کړي د جفا مخ
بې نصیب چې له دیدنه د جانان شوم
بیا مې هېڅ لیدلی نه دی د ښکلا مخ
د لویدیځ د ښکلو مینه بازاري ده
شپه دې غیږ کې سهار اړوي له تا مخ
راشه نن به بیا د مینې یاد تازه کړو
ښه په زغرده را ځرګند کړه د وفا مخ
هغه وخت به مې د ژوند ارمان پوره شي
چې دې ښکل کړم سره لعلونه او زیبا
مخ
سپوږمۍ ځکه د وریځ شا ته پنا کېږي
چې له زلفو رابهر شو نن شپه ستا مخ
خواریکښ نور د بیلتون له دوزخ ژغوره
په خړ ګرد یې د وطن ښکلی کړ بیا مخ

## اخ

۱۵/۱۰/۲۰۲۱ کوپنهاګن

داسې سوزې ګران کابله
لکه غوره شونتۍ بله
دښمنان دې تور لېوان دي
دوی دې وخوري یو تر بله
د افغان د پت شمله یې
د اسیا د وربل ګله
که سل وارې مې ژوند شي
درنه ځار شم په سل ځله
خواریکښ دې مینه ساتي
په خپل زړه کې تل تر تله

۲/۲/۲۰۱۸

**ویرژلی انتظار**

لوړ مازیګر
سکنې ماښام شو
د سپرلي موسم و
تنکۍ سپوږمۍ وه
د شفق د کنارو د پاسه
ځنګ ته یې ستورو
سترګکونه وهل
ما له جانان سره
وعده کړې وه
له کلو وروسته
له سفر راته
ور ته ولاړ وم
له ګلابه سره
خو شپېه وروسته مې
دا ګل
په خپلو اوښکو پرېمینځ
پر سور تټر مې
د جانان کېښود

د جون ۲۰۱۷ز ــ د کابل زنبق څلور لارې
ناورین مهال.



# اوړی امانزی

اوړی امانزی د انجینیر شفیق الله امانزي لور په کال ۱۳۷۴ ل کال د ننگرهار په کوز کنړ کې زېږېدلې، خپلې لومړنی زده کړې یې د کابل په بېلابېلو ښوونځیو کې ترسره کړې او په ۱۳۹۰ ل کال د ملکه ثریا عالي لیسې څخه فارغه شوې ده، وروسته یې خپلې زده کړې د ښوونې او روزنې پوهنتون د پښتو ژبې او ادبیاتو په برخه کې سرته ورسولې او د خپل لیسانس سند یې له همدې پوهنتون څخه په کال ۱۳۹۴ ل کال لاسته راوړ؛ خو د نوموړې زده کړییز سفر د دې سند په اخیستلو پای ته ونه رسید بلکې لا هم د ښوونې او روزنې پوهنتون د پښتو ژبې او ادبیاتو پوهنځي پښتو څانگې د ماسترۍ زدکړیاله ده.

اوړی خپلې لومړنی لیکنې د نثر په برخه کې په ۱۳۹۵ ل کال پیل کړې، چې لومړنی لیکنه یې (د ژوندانه ازموینې ) په نامه یادیږي، وروسته له هغه یې د نظم په برخه کې هم د خپل قلم نیلی وځغلولې چې تر دې دمه یې په دواړو برخو(نثر او نظم) کې گڼې لیکنې کړې دي. نوموړې د ژباړو له لارې هم گڼ شمېر مقالې او نور علمي او ادبي موضوعات خپلې ژبې ته راړارولي دي.

اوړی تر دې دمه کوم چاپي اثر نه لري خو ډېرې لیکنې یې په انټرنټي سایټونو، مجلو، ورځپاڼو، رسالو او اوونیزو کې خپاره شوي دي چې د بیلگې په توگه د کوزې پښتونخوا نوي غږ رساله،د بلوچستان کوټې لیکنی مجله، صدای شوراها،که یوه سجده ادا وه، غوره ملگرتیا، ملی هدف او داسې نور یادولای شو، همدارنگه د یادونې وړ ده، چې د نوموړې ناچاپ اثار چې په نږدې راتلوونکي کې به د چاپ په گاڼه سمبال شي.

## د اوړی امانزی نا چاپ اثار دا دي:

- اداري حقوق(ژباړه)
- ژور لید (د نړۍ د نامتو لیکوالانو پېژندنه او غوره ویناوې)
- اوړی د هسکې غاړې(شعري ټولگه)
- د نثر تال (د هنري او ساده نثرونو ټولگه)
- د ژبې د زده کړې په اړه نړیوالې نظریې او مکتبونه(څېړنیز اثر)

## د اوړی د کلام بیلگې:

### نظم

کاش چې ساوې ویشیدلی
کاش چې روح تقسیمدلی
کاش د اوښکو په باران مو
لړ هم زړه تسکینیدلی
کاش چې ته هم لړ په شانتې
غروب نه وروسته جگیدلی
کاش چې عمر خرڅیدلی
که قیمت یې زموږ د سر په بدله وای
ژړیدلی
رژیدلی
لویدلی
زما گرانه اغا جانه
ته خو چیرې تنها نه تلې
خو دا ځلې ولې لاړې
لاړې لاړې داسې لاړې
چې نه ته موږ ته راتلی شې
او نه موږ درته درتلی شو
اوس مو منځ کې ډیرې ډیرې
فاصلې دي
اندیښنې دي
د غمونو قافلې دي
زما گرانه اغاجانه
دا ستا غم لکه د غره لوېې ډېرې
نه خو کله ماتیدای شي
نه خو هم کله ویلې کیدای شي
نه دې څوک پر ځای راتلی شي
نه دا ستا څوک ځای نیوی شي
نور مو هیڅ په وس کې نشته
بس کښنتې کښنتې دعاگانې مو
د اوښکو په دریاب کې دې لېږلې
که هغه رحمان قبول کړې
بیا به واړه سره یو شي
تا به دواړه لاس نه نیسي
او د جنت تر دروازې به دې
ښه ورو ورو بدرگه کړي
زه لگیا یم
توري غوړ دي
کلمې هم لاس په لاس
زما غمونه
سره اوبدې او
د سترگو له پنجرو نه
د اوښکو
د نړۍ رسۍ په مرسته
د وجود له توري خونې
ټول دردونه راوباسي

ژونده بس مسکۍ شه خیر که هر ځل دې دوکه وکړه
هیلې دې زندۍ کړې اوس مې دغه فیصله وکړه
ځانته مې حیران شم چې مې خنگه زغملې یې
ولې مې ستا چل ول ته دا دومره حوصله وکړه
ته چې نن د مینې په مانا باندې ښه پوه شولې
زه نور درنه لاړمه له مینې مې توبه وکړه
لاړه شه اوړی دلته نور څوک د اوریدو نشته
تا لکه ټول عمر تش هنداري ته کیسه وکړه

## ادبي ټوټه

ستا د زلفو د شمال جنگ مې خوښیږي، دواړه ښه سره اخته وي.کله دې شمال په ښکلو زلفو زورور شي او ستا په وچولي یې خواره واره کړي او کله دې زلفې پرې زورور شي او د سالو په نوم زغرې کې ځان داسې ښه راونغاړي چې شمال یې لړ زره هم گډوډ کولی ونه شي، د دواړو منځ کې ته ډیره ستړې ستومانه کیږم کله دې ځان د تیز شمال نه پناه کوې او کله کله هم په ټیکرې کې د خورور ورو زلفو په پټولو بوخته یې؛ خو په دې درې واړو کې زه ډیر بختور یم، چې په ټوله لاره کې ستا د دې خواږه جنگ په لیدلو بوخت یم تا ته گورم او هیڅ په لاري نه پوهیږم.

## د خلقت ګناه مې څه وه؟

### فرزانه زيار

خدايه ولې دې پيدا کړم
تل محتاجه بيچاره يم
زوريدلې ژړيدلې
د هر چا پيغور نه ډکه
چې لا نه وم پيدا شوې
چې لا هېڅ پر نړۍ نه وم
مور مې دا دعا کوله
خدايه لور نه مې توبه ده
پلار مې تل غرور کولو
لور به څه وي لور نه غواړم
د خلقت ګناه مې څه وه؟
لا پيدا پر نړۍ نه وم
ټولو دا ګمان کوله
زما مور يې سپکوله
د واده پيغور له لاسه
ها ټول سره يې خرڅوله
وای لور به څه وي
چې تا راوړه
څه پيسې در باندې لاړې
تا پر دې باندې سپيره کړو
چې مې چيغې کړې له درده
يو غږ تل راشرنګيدلو
سپيرې چوپ شه!
ته لا څه يې
فقط ته خو کوم هلک يې
دا لا ګوره
اوس پر نر ښځې تيرې دي
چا په غيږ نه اخيستلم
تل به زه ژړيدلم
له خپل نصيب به کړيدلم
چې زه څه وم
ولې پيدا پر دې نړۍ شوم
د خلقت ګناه مې څه وه؟؟
تل مې دا خبره اوريدله
ډوډۍ لږ خوره چې سختي ده
زوی ته يې تل همدا ويله
زويه وخوره چې قوي شې
دا ستا متې فولادي شي
ته سياسره چيرته کينه
ته د کور او يا د ګور يې
دی خو کار کړي واليبال کړي
ته يوه کاسه پريمينځې
دا نو کار دی
دی خو نر دی
ته لا څه يې؟
د خلقت ګناه مې څه ده؟؟
کاش پيدا چې نه وای خدايه
د کتاب مخ ته چې ګورم
سم اغزی يې شم د سترګو
وايي چپ شه خدای دې واخله
ستا له درس سره نور څه دي
ته ډوډۍ پخول زده که
پردي کور ته به څه وايې
د ظلمونو انتها کې
د هر چا د لاس نانځکه
په لوږ سر د ډوډۍ وږې
لوی مصيبت پر دې نړۍ وم
زوريدلې کړيدلې خوارکۍ وم
د خلقت ګناه مې څه وه؟
پلار مې خرڅه په پيسو کړم
ځان مالدار زه يې د سپو کړم
که مې حق هم وای ويلی
وای چپ شه ته ناقصه
ښځه څه يه يې عقل
اوس دې تيره له نړۍ کړم
خدايه دا ګيله لرمه!
زه دې ولې کړم احتياجه
زما روزي دې کړ په بل
د ډوډۍ په مقابل کې
له پيغوره لېونۍ شوم
شومه شاړه هم پردۍ شوم
د خلقت ګناه مې څه وه؟؟؟

## د نوي کال په مناسبت د دعوت رسنيز مرکز پيغام

نوی کال مو بختور

درنو او پتمنو هېوادوالو نوی کال مو مبارک او بختور شه!

راشئ که د يوې ورځې لپاره هم وي غم او درد ته شا کړو، داسې يو کال ته مخ کړو چې غمونه، نفرتونه، کينې او حسد مو له زړه وباسي. کېدای شي پسرلی هم د ارزښتمنتوب احساس وکړي او داسې به يو رنګين، مهربان او په نېک فال پسرلی پيل کړو.

هيله ده د کال بدلېدل په هېواد کې د شته بدبختيو د پای کال وي. نور د باروتو لوګی او د ټوپک د کرغيړن غږ پر ځای د مرغانو د اوازونو او د ګلونو د ننداړو خوند واخيستل شي. ونې، بوټي او چمنونه زرغون شي، هر چېرې د طبيعت ښکلا او ځلا تر سترګو شي. سوله، امن او د ورورولۍ ژوند شي. هېواد او ولس مو له شته اقتصادي ناورين خلاص، په نس موړ او پر تن جامې ولري.

هيله ده ښځينه او نارينه پرته له جنسيتي توپيرونو د تعليم په ګاڼه سمبال، د ښوونځي او پوهنتونو دروازې د تل لپاره خلاصې وي. علمي کادرونه مو په افغاني، اسلامي، انساني، ازاد فکر او روحيه وروزل شي.

د نوي کال په مناسبت له اوسنيو چارواکو په ټينګه غواړو چې حکومت هله حکومت وی چې د ولس زړونه د سرکار ملګري وي او تر هغه چې واکمن ولس په مينه خپل نه کړي ماته يې حتمي او حکومت يې د جبر او زور پرته بل څه نه دي. واکمن بايد د وطن لوړې ګټې خوندي او د ولس او زمان برحقه غوښتنو ته مثبت ځواب ووايي. دا وطن د هر افغان دی د هيچا او هيڅ ډلې شخصي ملکيت نه دی .

او په پای کې داسې يو پسرلی پيل او تجربه کړئ، چې کلونه کلونه مو په ذهن کې انځوروله.

پسرلی مو نېکمرغه!

هر روز تان نوروز!

د دعوت رسنيز مرکز

# که دا نښې مو لرلې نو ځیرک او استعداد لرونکی شخص یئ

ریاض احمد

دلته به ځینې مشهورې نښې درښیو، چې دا مشخصوې که ځینو کسانو دا ځانګړنې لرلې؛ له هغه نه چې تاسو یې په اړه فکر کوئ ځیرک او د ښه ذهن څښتنان دي.  ډریک بایر او چیلسي هاروې مشهورو پوهانو په دې موضوع څېړنې کړې دې.

### که د کورنی تر ټولو مشر/ ه یئ:

تر ټولو مشران د څېړنو له مخې معمولا ځیرک او د ښه استعداد لرونکي کسان وي، خو دا موضوع په جینیتیک پورې اړه نه لري.

### که چېرته ډنګر یئ!

په ۲۰۰٦ زیږدي کال کې پوهانو ۲۲۰۰ بالغ کسان تر څېړنې لاندې ونیول او د دوی د ځیرکې او استعداد ټیسټ یې وکړ دې څېړنې ۵ کاله وخت ونیو. هر څومره چې د یو چا ملا او تنه غټه وي د ځیرکی استعداد یې هم ټیټه ده.

### که چېرته ځان سره سندرې زمزمه کوئ:

ډیری کسان به مو لیدلی وي چې ورکوالي څخه کله کله چې یوازې وي له ځان  سره سندرې زمزمه کو، څېړنې دا راښایي چې دا موشمان د لوړ استعداد  او فوق العاده استعداد خاوندان دي.

### که مو د مور شیدې پوره رودلې وي:

په یوه څېړنه کې چې په ۲۰۰۷م کال کې وشوه، هغه ماشومان چې په کوچینوالی کې د مور په شیدو تغذیه شوي وییه ډیر احتما وروسته ځیرک شخص ترې جوړیږي.

### که چپ لاس یئ:

ډیری وخت چپ لاسي هم ځیرک وي او ډیری وخت په جنايي پیښنو او جرمونو کې بشکیل لیدل شوي دي؛ خو تر اوسه څېړونو دده په اړه چې ولې داسې دی ځواب نه دی موندلی.

### که مو قد لوړ وي:

په ۲۰۰۸م کال په یوه څېړنه کې چې په زرګونو کسانو باندې سر ته ورسیده دا پایله دا پایله له (ای کیو) تر لاسه شوه،چې لوړ قد لرونکي کسان د ښه استعداد خاوندان دي او کولی شي په ځوانی کې ډیرې پیسې وګټي.

### که د هر شي په اړه ډیر تشویش کوئ:

د محققینو یوه ډله دا ثابته کړه چې مضطرب کسان به ځینو موارودو کې له نورو ښه ځیرک او د استعداد وړ کسان وي دا پایله د هغو بیلابیلو تجربو تر لاسه شوه چې په یوې ډلې کسانو باندې تر سره شوې وه.

### که شوخ طبیعته یئ:

په یوه څېړنه کې چې د اروپوهنې په ۴۰۰ محصیلنو تر سره شوه ښيي هغه کسان چې ټوکې وي سات تیره وي ګپې کوي او خلک خندوي بیلا بیل ذوق او خندونکي کارټونونه رسموي ځیرک او د ښه استعداد کسان دي.



### که کنجکاو یئ:

په هر شي پوهېدنه، د هر څه په اړه تحقیق کول او که د هر څه په اړه مو چې اوریدلي پلټنه کول دا ثابتوي چې د ښه استعداد لرونکی یئ.

### که په ګډوډ اتاق کې مو چرت نه خرابیږي:

د امریکا د مینه سوټا پوهنتون د اروپوهنیزو علومو مطاله ښيي چې په یو ګدوډ اتاق کې چې کتابونه، جامې، کتابچې، قلمونه، کاغذونه او هر څه ګډوډ پراته وي د خلاقیت او پنځونې قوه زیاتیږي.

### که د شپې تر ډیره ویښ یئ:

د فردي توپیرونو د نړیوال انجمن د رسمي مجلې له مخې چې محقیقینو په کې تحقیق کړی دی دې پایلې ته رسیدلي هغه کسان چې د شپې تر ډیره ویښ پاتې کیدل خوښوي د ځیرک ذهن څښتنان دي.

یادې څېړنې د انډر بیلټ پوهنتون څېړونکې کړې ده، تاسو یې په اړه څه فکرکوئ؟؟

# ذهني سټرېا څنګه له منځه یوسو؟

عادل ارمان

په انسانانو کې یو له سخته ناروغیو څخه هم ذهني سټرېا ده، چې انسان په دې حالت کې د فکر کولو وړتیا له لاسه ورکوي او خپل احساسات له نورو سره نه شي شریکولی. نو دا حالت ددې لامل کیږي چې انسان په فزیکي سټرېا او ځینو نورو ناروغیو اخته شي. ذهني سټرېا ډېر لاملونه لري چې د هغې له جملې څخه کار، کورنۍ ژوند او په ځانګړې ډول خوب نه کول دي. ددې خنډ سره د مبارزې لپاره لومړی خپل ذهن ارامه کړئ. دلته مو له ځینو تګ لارو او حل لارو سره معرفي کوو چې ددې ستونزې په وړاندې د مقاومت او مخنیوي لپاره غوره دي:



۱: خپل ځانته وخت وټاکئ:

ددې ناروغۍ تر ټولو غوره درملنه دا ده چې په یوه تیاره کوټه کې او له خپل خالق سره اړیکه ټینګه کړئ. د قران کریم تلاوت، لمونځ او دعا په نړۍ کې تر ټولو ډېر انسان ته ارامتیا بخښي. دعا او په دعا سره ژړا هغه عملونه دي چې د زړه او ذهن سټرېا به مو له منځه یوسي.

۲: ارامه او په خاصه اندازه خوب کول:

ځیني کسان د خوب کولو سره سره بیا هم په ذهني سټرېا اخته وي. ددې خنډ د له منځه وړلو لپاره باید پوره اته ساته او په اندازه خوب وکړئ. هره شپه اته ساعته خوب به مو له ذهني سټرېا  او ذهني فشارونو څخه وژغوري. خاصه توګه خوب بدن ته د خپل ځواک حاصلولو چانس برابروي.

۳: کوښښ وکړئ ځیني ورځني مشکلات هېر کړئ:

کتاب ولولئ، له ملګرو او یا د کورنیو غړو سره په رخصتیو کې په چکر لاړ شئ. ځیني وختونه د چاپیریال بدلول له انسان سره مرسته کوي تر څو خپل ورځني ذهني فشار او ځیني مشکلات حل کړي.

۴: هره ورځ ورزش وکړئ:

د ورزش پر مهال د انسان عصبي سیستم اندروفین په نوم مواد تولیدوي، اندروفون هغه مواد دي چې انسان خوشحاله ساتي. تاسې اړتیا نه لرئ چې په ۱۵ دقیقو یا ساعتونه ساعتونه ورزش وکړئ یوازې قدم وهل مو همد موخې لپاره کفایت کوي.

۵: د ساه اخیستلو ورزش:

د لسو ثانیو لپاره د پوزې له لارې ژوره ساه واخلئ او د خولې له لارې یې وباسئ. دغه کار مو د هر ډول ذهني فشار او ذهني سټرېاوو څخه ژغوري.


## ناروې میشتو پښتنو هېوادوالو ته زیری!

د ناروېژي پښتو قاموس (Stor Norsk-Pashto Ordbok) د دعوت رسنیز مرکز څخه په لیلیستروم کې تر لاسه کولی شئ. همدا راز یې مینه وال په ټوله ناروې کې د نورلي Norli د ټولو کتابپلورنځیو څخه  د لیکوال د نوم، د کتاب د نوم او یا ISBN نومرې په ویلو او ښودلو سره ستاسو له پاره غوښتلی شي په اوسلو کې یې په مستقیم ډول د نورلي د لاندې مرکزي دفتر او کتاب پلورنځي څخه اخیستلای شئ.

Norli - Universitetsgata i Oslo

او هم د خپل کمون او سیمې د کتابتون، ښوونځي او پوهنتون کتابونو څخه هم کتاب غوښتلای شئ تر څو یې ستاسو د استفادې له پاره واخلي.

یواځې د کتاب نوم، د لیکوال نوم او د ISBN شمېره ورته ووایاست .

ناروېژي پښتو قاموسStor Norsk-Pashto Ordbok

لیکوال: محمد طارق بزګرMohammed Tariq Bazger

ISBN: 978-82-691395-0-1

Dawat Media Center

Voldgt. 37A, 2000 Lillestrøm. Mobil: 90856195




# چگونه از عقاید احمقانه بپرهیزیم؟

برای پرهیز از انواع عقاید احمقانه که بعضی افراد مستعد آن هستند، نیاز به نبوغ فوق العادهٔ بشری نیست. چند روش ساده شما را نه از همه خطاها، بلکه از بیشتر عقاید احمقانه دور میکنند.

۱. اگر موضوع با مشاهده روشن می‌شود، مشاهده را شخصا انجام دهید. ارسطو می توانست از این باور اشتباه که زنان دندانهای کمتری از مردان دارند با یک روش ساده پرهیز کند. او میتوانست از خانمش بخواهد که دهانش را باز کند تا دندان هایش را بشمارد. او این کار را نکرد چون فکر میکرد میداند. تصور کردن این که همه چیز را میفهمید در حالیکه در حقیقت آن را نمی فهمید، خطای مشهور است که همهٔ ما مستعد آن هستیم.



۲. اکثر موضوعات از این ساده تر آزمایش میشوند. اگر شما مثل اکثر مردم نسبت به بعضی از مسایل ایمان راسخ و پرشور دارید، روش‌هایی وجود دارد که می‌تواند شما را از تعصب خودتان باخبر کند. اگر عقیده مخالف، شما را عصبانی می کند، این نشانه آن است که شما ناخودآگاه میفهمید که دلیل مناسبی برای آنچه فکر می‌کنید، ندارید. اگر کسی دعوی کند که دو جمع دو پنج میشود ، یا این که ایسلند در خط استوا قرار دارد، شما به جای عصبانی شدن، احساس دل سوزی میکنید، مگر آنکه اطلاعات حساب و جغرافیا شما آنقدر کم باشد که این سخنان در افکار شما تزلزل ایجاد کند.

۳. اکثراً بحثها زمانی بسیار تند میشوند که طرفین درباره موضوع مورد بحث دلایل کافی نداشته باشند. شکنجه در الاهیات به‌کار می‌رود، نه در ریاضیات. چون ریاضیات با علم سر و کار دارد، اما در الاهیات تنها عقیده وجود دارد. بنابر این هنگامیکه فهمیدید از تفاوت نظر عصبانی هستید، مراقب خود باشید احتمالا با بررسی بیشتر درخواهید یافت که برای باورتان دلایل تضمین کننده ندارید.

۴. یک راه مناسب برای این که خودتان را از انواع خاصی از تعصب خلاص کنید، این است که از عقاید مخالفی که دوستان چهار اطراف تان دارند آگاه شوید. وقتی که جوان بودم سالهای زیاد را دور از کشورم در فرانسه، آلمان، ایتالیا و ایالات متحده به سر بردم. فکر میکنم این قضیه در کاستن از شدت تعصبات و تنگ نظری بسیار مؤثر بود. اگر شما نمیتوانید مسافرت کنید، به دنبال کسانی بگردید که نظریات مخالف شما دارند. روزنامه‌های احزاب مخالف را بخوانید. اگر آن افراد و روزنامه‌ها به نظرتان دیوانه، فاسد و بدکار می آیند، به یاد داشته باشید که شما هم از نظر آنها همینطور به نظر میرسید. بنابر این ممکن هر دو طرف بر حق باشید، اما هر دو نمی‌توانید بر خطا باشند. این طرز فکر از نوعی احتیاط بوجود آمده.

۵. برای کسانی که قدرت تخیل ذهنی قوی دارند، روش خوبی است که بحث را با شخصی که نظر متفاوت دارد در ذهن خود تصور کنند. این روش در مقایسه با گفتگوی رودررو یک فایده و تنها یک فایده دارد و آن اینکه در معرض همان محدودیت‌های زمانی و مکانی قرار ندارد. مهاتما گاندی راه آهن، کشتیهای بخار و ماشین‌آلات را محکوم می کرد، او دوست داشت که تمام آثار انقلاب صنعتی را خنثی کند. شما ممکن است هرگز این شانس را نداشته باشید که با شخصی دارای چنین عقایدی روبرو شوید، چون در کشورهای غربی اغلب مردم با دستاوردهای تکنالوژی جدید موافق هستند. اما اگر شما می‌خواهید مطمئن شوید که در موافقت با چنین باور مشهو حق به جانب هستید، روش مناسب برای امتحان‌کردن این است که بحث خیالی را تصور کنید و در نظر بگیرید که اگر گاندی حضور می‌داشت چه دلایلی را برای رد نظر دیگران ارائه میکرد.

۶. نسبت به عقایدی که خود ستایی شما را ارضاء می‌کند، محتاط باشید. از هر ده نفر، نُه نفر چه مرد و چه زن قویا معتقدند که جنسیت شان برتری خاصی دارند. دلایل زیادی هم برای هر دو طرف وجود دارد. اگر شما مرد باشید می‌توانید نشان دهید که اغلب شعرا و بزرگان علم مرد هستند، اگر زن باشید می‌توانید پاسخ دهید که اکثر جنایت‌ها هم کار مردان است. این پرسش اساسا حل شدنی نیست، اما خود صفتی این واقعیت را از دید بسیاری از مردم پنهان میکند.



# د افغانستان د اسلامي اِمارت مشرانو ته پرانیستې لیک

عبدالباري جهاني



درنو مشرانو السلام علیکم. زړه ته مې نه لوېږي چې زما دا لیک دې تر تاسې پورې  ورسیږي او یا دې، د رسېدلو په صورت کې، څوک اهمیت قدر ورکړي؛ خو زه خپله وجداني وظیفه پر ځای کوم .

درنو مشرانو! شپږویشت کاله مخکې، چې ستاسې اکثریت ځوان ملګري به یا زېږېدلي نه ول او یا به ماشومان ول، ما د محترم وکیل احمد متوکل صاحب په مخکې، په کندهار کې، مُلا محمدعمر اخند ته وویل چې « تاسې له مخکني حکومت څخه د خلکو د نارضایت او په نتیجه کې، له تاسې څخه، د خلکو د ملاتړ په زور راغلي او قدرت ته رسېدلي یاست. موږ ته په امریکا کې آوازه را ورسېده چې کله تاسې د اسماعیل خان سره په جګړه لګیا واست یوې سپین سرې ښځې د خپل پوړني په پلو کې ماش درته راوړي وه او ویل یې ما په کور کې دغه څه درلوده دا واخلئ او طالبانو ته یې ورکړئ. دا د همدغه اولس صمیمیت او احساسات وه چې تاسې یې قدرت ته ورسولاست. خو زه چې افغانستان ته راغلی یم؛ ما ستاسې څخه یو سړی هم خوښ نه دی لیدلی او ټول درڅخه ناراض دي. که تاسې خلک په دغه شکل ناراض وساتي، ستاسې سرنوشت به هم د پخواني حکومت په څېر وي «.

ما ملاصاحب ته، په دغه ارتباط، نورې ډېرې خبرې هم وکړې او ډېر مثالونه مې ورته راوړل. متوکل صاحب شاهد دی چې ملاصاحب زما د خبرو جواب نه درلودی او هیڅ یوه خبره یې هم ونه کړه .

له بده مرغه چې شپږویشت کاله وروسته تاریخ په یوه بل شکل تکرارېږي. زه یقین لرم تاسې پوهېږئ چې په وطن کې لوږه او بېکاري خپل وروستي سرحد ته رسېدلې ده. د دې مدعا ښه ثبوت له یوې خوا پر سړکونو او بازارونو کې د خیرات خورو ښځو، ځوانانو او ماشومانو کتارونه او له بلې خوا ایران ته د افغان مهاجرینو سېل دی چې د ګاونډي هېواد ایران د ټول غیر انساني سلوک سره سره بیا هم خلک د خوارۍ مزدورۍ او یوې ګولۍ ډوډۍ د پیدا کولو لپاره د هغه هیواد ټول زحمتونه او غیر انساني سلوک پر ځانونو باندې مني او له خپلو کلیو او ښارونو څخه ورتښتي. دا د افغانستان تاریخ او حیثیت ته څپېړه ده .

محترمو مشرانو! تاسې له یوې خوا وایاست چې افغانان باید له وطنه ونه وزي او له امارت سره همکاري وکړي مګر له بلې خوا مو د وزارتونو په مخکې طالبان درولي او ږیرخړیلي مامورین دفترونو ته نه پرېږدي. د دې معنا دا ده چې تاسې ته لیاقت او د انسان شخصیت نور هیڅ اهمیت نه لري او د ښه سړي توب او لیاقت معیار یوازې ږیره ده. ستاسې د عالي تحصیلاتو وزیر وایي چې په تیرو شلو کلونو کې چې هر چا تعلیم او تحصیل کړی وي هغه د هیواد په درد نه خوري. آیا د یوه حکومت د عالي تحصیلاتو وزیر باید دغه راز بې مسوولیته خبرې وکړي؟ زه ګومان نه کوم چې د دغه سویې څښتن سړی دې د یوه عادي مدیریت د چوکۍ صلاحیت او ورتیا ولري .

د دې پرځای چې د هیواد بې ساري اقتصادي ستونزو حلولو او یوې لارې پیدا کولو ته توجه وکړئ، خپله توجه مو د محتسبینو اداري ته متمرکزه کړې او هغوی پرته د خلکو له آزارولو څخه بل کار نه لري. موږ هره ورځ په ټولنیزو رسنیو کې د افغانستان د خلکو د لوږې، بېکارۍ او ګدایي ګرۍ ویډیوګانې ګورو. موږ هره ورځ وینو چې د هیواد ځوانان د ایراني او پاکستاني مقاماتو له ټولو سپکاویو سره سره بیا هم هغو هیوادونو ته تښتي. تاسې دې مهمې حیاتي مسئلې ته د توجه کولو پر ځای خپل ټول قوت د رباب ماتولو او د موسیقۍ د هنرمندانو وژلو ته متوجه کړی دی. د سرک پر غاړه طالب یا د امر بالمعروف نفر ولاړ وي او د موټروان تر زنې لاس لاندې کوي او وایي که ږیره پرېږدې څومره به ښه ښکارې. دا د انسان پر شخصیت باندې تېر ی دی. دا چې هغه موټروان له ویرې څه نه سي ویلای دا ببله خبره ده .

تاسې د نجونو پر مخ د مکتبونو دراوزې ترلې دي، پوهنتونونه مو رخصت کړي دي او بیا د ترقۍ ناری وهئ. په جهان کې داسې بل کوم اسلامي هیواد هم سته چې د نجونو ښوونځی ونه لري؟ او د نجونو له ښونځیو پرته ترقي او حتی د هیواد ژوندي پاته کېدل ممکن دي؟ پر سړکونو باندې د ځوانانو وېښتان قیچي کوي او د خلکو په مخ کې یې توهینوي. دا نه یوازې پر انساني کرامت باندې تېری دی بلکه د حق متعال پر حدودو باندې هم ښکاره تجاوز دی. تاسې ځانونه د اسلام د دین علمبرداران بولئ؛ مګر دا راته ویلای سې چې تاسې ته کوم کتاب د مسلمان اولس د دغه راز توهینولو او له هغوی سره د دغه راز سلوک کولو اجازه درکړې ده؟

درنو مشرانو! ستاسې د قدرت اته میاشتې پوره کېږي. په داسې حال کې چې د افغانستان د خاورې په سلو کې سل مو هم تر کنټرول لاندې ده خو تر اوسه پورې نه کوم کُفري او نه اسلامي هیواد، حتی پاکستان، په رسمیت پېژندلی یاست. نن ورځ نړۍ د یوه لوی کور حیثیت لري. په دونه لوی کور کې څوک یوازې ژوند نه سي کولای. یوازې افغانستان او اسلامي امارت د ټولې نړۍ څخه ګوښه او تجرید دی. دا د افغانستان بین المللي حیثیت ته سپکاوی دی او چاره یې یوازې تاسې کولای سې .

د اسلامي امارت خارجه وزیر ښاغلی متقي یوه ورځ وویل چې نړۍ زموږ څخه څه غواړي؟ موږ څه باید وکړو چې نړۍ مو په رسمیت وپیژني؟ زه ګومان کوم چې دا سوال باید پخپله ستاسې او پخپله له متقي صاحب څخه وسي. تاسې په نړۍ کې بل داسې هیواد پېژنئ چې په دنیا کې یې هیڅ څوک په رسمیت نه پېژني؟ د دې علت تر بل هر چا تاسې ته پخپله معلومیږي .

درنو مشرانو په دې هم پوهېږم چې زما دا پرانیستی لیک، که احیاناً تر تاسې ورسېږي، هیڅ اغېزه نه لري خو ما خپلې غاړې خلاصي او وجداني مسوولیت مې سپک کړ. یو ځل بیا هم درته وایم چې د اولسونو نارضایت ستاسې د سقوط او پر هیواد باندې د یوې بلې فاجعې د نازلېدلو پیلامه ده .

په خپل قدرت مه مغرورېږئ. دا یوازې ستاسې کمال نه وو چې تاسې د هیواد چارې په لاس کې واخیستلې او نن ورځ په ټول هیواد کې داسې غښتلی سیاسي رقیب نه لري چې له هغه څخه و وېرېږئ. دا د مخکني رژیم منتهي فساد او له هغه څخه د خلکو شل کلن نارضایت وو چې ستاسې برې ته یې لاره هواره کړه؛ او اوس هغه نارضایت ستاسې څخه هم موجود او پرله پسې مخ پر زیاتېدلو دی .

د خلکو نارضایت، عامه لوږه او بېکاري او له ټولې نړۍ څخه ستاسې سیاسي تجرید ستاسې د سقوط او کندې ته د لوېدلو پیل دی. وما علینا إلا البلاغ .

عبدالباري جهاني

د ۱۴۰۱ لمریز کال د وري (حمل) ۲۳مه

# د دعوت رسنيز مرکز له خوا چاپ شوي کتابونه

دعوت رسنيز مرکز وياړي چې د خپلو نورو فرهنگي فعاليتونو په څنگ کې چې هغه د دعوت مجلې خپرول، د دعوت ميډيا ۲۴ او افغان سباوون ويبپاڼو تر څنگ په دې وروستيو يو شمېر په زړه پورې، مهم او ارزښتمن کتابونه د خپلو خلکو د چوپړ له پاره خپاره کړي دي. چې دلته په لنډ ډول د کتاب پېژندنه او د لاس ته راوړلو طريقه او د کتاب بيه او پوستي بيه ښوول کيږي.




**۱/ يوه افغانه ښاپيرۍ په کييف کې** (لومړی چاپ 1919)، ليکوال محمد طارق بزگر

چې د يوې ريښتنې پېښې له مخه ليکل شوې او د افغان جگړې د ناخوالو، نتيجو ، تاثيراتو او په ټولنه او خلکو يې اغيز، ښځه په افغاني ټولنه کې او د يوې افغانې د دردونکې او تريخ ژوند کيسه چې بلاخره بدلمنۍ ته مجبوريږي.

د کتاب بيه ۱۵۰ ناروېژي کرونه يا د هغې معادل او پوستي د لياري ۲۰۰ ناروېژي کرون (د نړۍ ټولو هېوادونو ته).




**۲/ ملي رسالت (د محمد طارق بزگر کارنامې)** ليکوال اروانښاد مصطفی عمرزی. دا کتاب چې د دعوت رسنيز مرکز او مسئول مشر بيلابيل فعاليتونه او د لسگونو مطرحو افغانانو نظرونه هم په بر کې لري او د دې کتاب ژبه پښتو او دري ده. کتاب د خرڅ (پلور ) له پاره نه دی خو مينه وال يوازې ۱۰۰ کرون ياني (۱۰) ډالر د پوستي مصرف په ورکړې سره کتاب تر لاسه کولای شي.

**۳/ زمونږ کاکا مُراد (ډاکټر ناکامورا)** د ژوند، کار، فعاليتونو او د دغه ستر انسان په اړه د لسگونو افغانانو نظرونه او نور ډېر څه د




عکسونو سره راغونډ شوي دي، د کتاب ژبه پښتو او دري ده، دا کتاب هم په وړيا ډول يوازې د پوستي مصرف (۱۰۰ ناروېژۍ کرون يا ۱۰ ډالر) په ورکولو سره هر افغان چې د نړۍ په هر گوټ کې وي او غواړي ورته لېږل کيدای شي.




**۴/ کله چې طوطي والوت** د ماشومانو له پاره د يو ناروېژي کتاب ژباړه ده د کتاب ليکوال انتون ايسپيرو او ژباړن يې محمد طارق بزگر

دی. دا کتاب د ماشومانو له پاره په خوږه پښتو ژباړل شوي او په ښکلی قطع او صحافت چاپ شوی دی. د کتاب بیه ۱۰۰ کرون یاني (۱۰ ډالر) ده او د پوستي مصرف سره ۱۵۰ کرون یا ۱۵ ډالر ده د نړۍ په هر گوټ کې هېوادوال کولای شي دا کتاب د دعوت رسنيز مرکز څخه د قیمت په بدل کې وغواړي.




۵/ په انگلیسي ژبه د کییف ښاپیرۍ (An Afghan Beauty in Kiev) چې لیکوال یې محمد طارق بزگر دی د یوې ریښتنې کیسې او پېښې له مخې لیکل شوی چې په ټوله د جنگ جگړو د ترخو تاثیراتو له امله د یوې افغانې د ژوند د ناخوالو کیسه چې په پای کې بدلمنۍ ته مجبورېږي. د دې کتاب بیه ۱۰۰ ناروېژي کرون یاني ۱۰ ډالر ده چې د پوستي مصرف سره ټول ۱۵۰ کرون یا ۱۵ ډالر کیږي چې د قیمت په ورکړې سره د نړۍ هر گوټ ته مینه والو ته لیږل کیږي. دا کتاب په بهرنیو هېوادونو کې ستاسو بهرنیو دوستانو، استادانو، د کار همکارانو، گاونډیانو، ملگرو له پاره هم یوه ښه ډالۍ ده.

## سره پیشو، کوتره او تور سپی

یوې سرې پیشو یوه کوتره نیولې او څغلوی یې چې ناببره ورته د تور سپي پام شو، ورټوپ یې کړ کوتره یې ترې راخپله کړه او په داسې حال کې چې له خولې یې ناړې ورته څڅېدې، تور سپي کوترې ته وویل :
شکر وباسه چې له پیشو مې وژغورلې «را ازاده» شوې! کوترې وویل: هو له پیشو راخلاصه شوم، خو اوس د سپي تر ژامې لاندې یم .
پر ما یې څه فرق، یا «سرې پیشو» خوړلې یا «تور سپی!»



٦/ ناروېژي - پښتو قاموس Stor Norsk-Pashto Ordbok چې د محمد طارق بزگر د ۱۷ کلونو د زیار او هڅو نتیجه ده چې ټول ۵۰۰۰ لغاتونه او کتاب ۱۰۰۰ مخونه لري په لوړ معیار چاپ او له ناروې بر سیره په سویډن او ډنمارک کې هم هېوادوال ترینه گټه اخیستلای شي. په دې کتاب سره د هر مسلک د خاوندانو ستونزې تر ډېره حلیږي یا په بل عبارت د لومړي ټولگي تر پوهنتونه، په هر ډول کاري چاپیریال او په کور کې د والدینو له خوا د ماشومانو ژبنۍ ستونزو په حل کې پوره مرسته کوي. د ناروېژي ژبې د هر ډول لغاتو مانا په اسانه په کتاب کې




پیدا کولی شئ دا باید هم یادونه وشي چې د یو زیات شمېر لغاتونو، نومونو او نورو شیزونو عکسونه د اسانه پوهاوي په پار د کتاب په پای کې ځای پر ځای شوي دي چې دا په اسانه د پوهاوي په برخه کې د قاموس کارونکو سره مرسته کوي. د دې کتاب شتون په هر افغاني او پښتنې کور او ستاسو په کتابتون کې ضروري او د ناروېژي ژبې په حل کې ستاسو ښه مرستندوی دی. د دې کتاب بیه ۷۰۰ ناروېژي کرون (هغه چې د دعوت رسنيز مرکز څخه په مستقیم ډول تر لاسه کوي) او د پوست د لارې بیه یې په ناروې، سویډن او ډنمارک کې ۸۵۰ کرون ده. د ناروې د هر کتابتون څخه د لاندې معلوماتو په ورکولو سره ناروېژي پښتو قاموس غوښتلای شئ. په ټوله ناروې کې د نورلی Norli د ټولو کتابپلورنځیو څخه یې هم تر لاسه کولی شئ.

د کتاب نوم: ناروېژي پښتو قاموس Stor Norsk-Pashto Ordbok
د لیکوال نوم: محمد طارق بزگر Mohammed Tariq Bazger
ایس بی این شمېره: ISBN: 978-82-691395-0-1

د پاسنیو کتابونو مینه وال او غوښتونکي کولای شي په حضوري ډول یې د لیلیستروم په ښار (ناروې) کې یې د دعوت رسنيز مرکز څخه واخلي او یا هم د بانک د لارې پیسې د دعوت میډیا په اکاونټ AC#0530 22 94668 او یا د دعوت رسنيز مرکز د ویپس په شمېره شمېره Vipps: #557320 د خپل بشپړ پوستي ادرس سره راولیږي ستاسو د خوښې او اړتیا وړ کتاب به ډېر ژر تر تاسو دررسیږي.

د دعوت رسنيز مرکز دفتر Dawt Media Center
Voldgt. 37A
2000 Lillestrøm, Norway
Tel: +0047 63844384
Mobil: +0047 90856195

Kyiv denied reports of the surrender and said some parts of Mariupol were still held by government forces and that a group of marines had successfully undertaken a “risky manoeuvre” to link up with members of the Azov regiment in the ruined city. Neither the Russian nor Ukrainian claims could be verified.

Mr Zelenskiy made a new appeal to western allies to send heavy weapons and ammunition to Ukraine, listing tanks, air defence systems, artillery pieces and shells, multi-launch rocket systems and fighter aircraft as top priorities.

“Without additional weaponry, this war will become an endless bloodbath . . . Nobody will stop Russia except Ukraine with heavy weapons,” he said. “It must be done now . . . Freedom must be armed better than tyranny. Western countries have everything to make it happen.”

